2
Copy.....

والاحضرت

شهزاده احمدشاه خان

دسروبی دبرښنا دفابریکې دتونل او
دتخنیکی او عمرانی فعالیتونو دکتلو
په وخت کښې

* * *

د جدی (۱)
۱۳۳۱ ل

۳۲۷

دکونړ ننداره

یو رنګین رنګین چمن دی ښې وږمې دی د ګلونو
یو تازه تازه ګلشن دی ډك دعطر وله بو یونو

❀ ❀ ❀

سمسور غرونه شنهٔ ځنګلونه د ښایست یوه جلوه ده
هم په سمه هم په غرو کښې یو طوفان د مکیزونو

❀ ❀ ❀

یوه ښکلې ښه تا بلو ده دقدرت د شهکا ریو
که ښایست دطبیعت دی په کونړ کښې دسیندونو

❀ ❀ ❀

دادب شعر زا نګوده لطف او خوند پکښې زنګېږی
دخو ږو سند رو ملك دی انګازې دی دشعرونو

❀ ❀ ❀

ښیوه ډکه له ښیو وده ورنه بره نور ځلېږی
په نور ګل او دیوه ګل کښې قافلې دی درنګونو

❀ ❀ ❀

دغه ټول به درنه هېر شی په حیرت کښې به لاهوشې
دخوکۍ په ماز یګر کښې که خبر شې په خوند ونو

❀ ❀ ❀

دهوا رو په ارمان کښې دغروزړونه ویلی کېږی
که سپین زردی رابهېږی ځای په ځای له آبشارونو

❀ ❀ ❀

دکونړ په غرور غونو سره ګلان دی زرغون شوی
که دغرونو په سینو کښې خزانې دی د لعلونو

❀ ❀ ❀

ټول کونړ له بره سرنه تر آخره سره پوری
دښایسته غرونو لمن کښې یوما شوم دی په ټوپونو

❀ ❀ ❀

ددې ځمکی په ورشو کښې په مستۍ کبلی څرېږی
خو شبونی دراموسونې څوچنده ده له عطرونو

❀ ❀ ❀

دکونړ په هره تېږه دعظمت تاریخ لیکلی
فیصلې دی دلته شوی د قومو دقسمتونو

❀ ❀ ❀

هر یو غرئی اژدها دی دسکندر فوځ ئی نغرلی
په لړمون کښې ئی براته دی انبار و نه دهډونو

❀ ❀ ❀

تماشې ته ئی ولاړ دی جګ جګ غرونه ګرچاپیره
ایله ځی ئی نه مړ ېږی اوړی ژمی په سیلونو

❀ ❀ ❀

دکورونو په تعمیر کښې بر خه اخلی دغه غرونه
ښائی بر خه خلك واخلی په تعمیر د کونړ ونو

❀ ❀ ❀

استعداد ئې په تندیو د وړوکو لیکل شوی
خو محتاج له حده ډېر دی د روز نی لاسونو

(رشتین)

د (۲۲) کال (۱۸) گڼه

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره

ادبي، اجتماعي، تاریخي مجله

د پښتو ټولنې د عمومي مدیر

صدیق الله رښتین

ترکتنې وروسته خپرېږي

چلوونکی: نور محمد «پوونده»

د جدی (۱)
۱۳۳۱ ش

د ربیع الثانی (۵)
۱۳۷۲ ق

د دسمبر (۲۶)
۱۹۵۲ ع

پته:
پښتو ټولنه
کابل
افغانستان

د تیلفون لمبر
۲۰۴۷

د اشتراک قیمت:

د کابل په ښار کښې	په دننه هېواد کښې	په نورو ملکو کښې
۳۶ افغانۍ	۴۰ افغانۍ	۴ والره

ددې کښې لیکنې

ایک	لیکوالی	مخ
دپښتونستان مسئله	ښاغلي رشتین	۱
مړاوی ګل	د «سیال» په قلم	۳
دبنفشې ګل	« «فهیم» ترجمه »	٦
ملی صادق څوك دی ؟	« بلبل افغان	۹
خیالی آشنا ته	« بختانی	۱۱
دتیارې ژوند	« پرهیز	«
د درد ناره	« علیل	۱۲
داتوم زړه	« محمدبشیر لوډین	۱۳
راغلی لیك	« باور رحیمی	۱٤
دپښتنو خواب	« رشتین	۱۵
مرحوم قاضی محمدهاشم	« م ننګر هاری	۱۸
زما سفر	« ژواك	۲۱
د کجوری غزا	« صدیقی	۲۳
دژوندانه تحول	« تتر	۲۵
پښتنو پښتو وپالی	«مېرنی	۲٦
سوال او لحواب	د «سیفی» ترجمه»	۲۷
ای ښکلی شهه ...؟	«ایوبی	۳۱
پښتنولی	« خادم	۳۲

د پښتونستان مسئله

اوه کاله پخوا چه په نړۍ کښې دوهم لوی جنګ خلاص شو. نو دې لوې جنګ دنیا ته داسې ګړزور کړچه د استعمار دامپرا طورۍ په ماڼو او قصرونو کسی رېږ داو زلزله پیدا شوه او دزور ګیرۍ له منارو څخه دوړی پورته شوې. شرق او غرب سره وخوځیدل، دنیا وجړ کېده، په مشرق کښې دحریت او آزادۍ چغې پورته شوې، که جاپان په یوه بم له برمه پرېووت نو په نوره ایشیا کښې دملیت او خپلواکۍ برم او پرتم قوت وموند، دجاوا اوسمانړا په ټپوګانو کښې یوقوی، عښلی ترټولو لوی اسلامی حکومت جوړ شو، برما دآزادۍ نغاره ودنګوله هند دآزادۍ اوخپلواکۍ په جګه څوکه وخوت، له لبنان اوسوریې څخه دفرانس لاسونه لنډ شول، دفارس په خلیج اوسور سیند کښې هم دسمندر چپې په غورځنګ راغلې، په مصر لیبیا، ټیونس مراکش کښې دنوی ژوند ساوچلېده، کلاره اوغلی افریقا هم وخوځیده، غرض داچه په وچه او لمده بحر اوبر کښې طوفان اوهیجان، پیدا شو. په دې الغاو تلغاو کښې دپښتونستان هنګامه هم منځ ته راووتله داهم یوطبعی او فطری حرکت ؤ د پښتنو د آزادۍ او خپلواکۍ دروح دپاره لږ حرکت پکار ؤ، سره ددې چه دښمنانو ددوی دغلی او کلار ساتلو دپاره هرقسم لاری چاری سنجولې وې، مګر دقومی ارادو په مقابل کښې هیڅ قوت او هیڅ چلول ځان نشی ټینګولی، هم داوجه وه چه په ډېر لږ وخت کښې د پښتونستان هنګامه توده شوه، دپښتون بچی بچی ته داخوږ غږ ورسید، د پښتونستان په جګو غرونو، لویو درو اوشنو ناوونو کښې دغه هنګامه تاو راتاو شوه، په کلاره ناستو کسانو ته ئې هم ټکان ورکړ، ټول ئې یوشان وخوځول، په دی غوغا کښې دخپل نامه عظمت ته متوجه شول، دخپل تاریخ زاړه شان ته ئې پام شو زر زر سره راټول شول، کېنا ستل پاڅېدل، په جرګو. مرکو مظاهرو اوټولنو بوخت شول او دپښتونستان تحریك ئې شروع کړ لاکن بیاهم دزاړه دښمن له چالونو سره مخامخ شول هغه دښمن چه پخوائی هم داقوم سراوچتولو ته نه ؤ پرې ایښی، درست ئی له یو بل نه جلا او بیل ساتلی ؤ و، دتعلیم

او پوهی رڼائی ورته نه وه ښودلی ؛ هم هغه میرڅمن بیا ددوی دحرکت مخه ونیوله ، لاکن داخل ئی خپله بڼه بدله کړه او دپاکستان په نامه ئی دپښتنو مخی ته یولوی بت ودراوه . دپښتنو په یوه لویه قوی برخه ئی چه دسیاست او حکومت دچالونو سره آشناوو لا په اول سر کښی قبضه وکړه ، په آزادو پښتنو کښی سیاسی دماغ نه ؤ چه له دغه طلائی وخت نه ئی ګټه اخیستی وای نو ځکه دمحکوم پښتونستان بیدار او پوه خلك لا په اول کښی ددښمن په منګلو کښی ګیر شول د لاس او پښو خوځولو موقع ئی بیا نه مونده کلك پلك وتړلی شول او په جیلخانو کښی وغور ځولی شول.

نو ځکه دپښتونستان هنګامه یواځی آزاد پښتونستان یعنی سرحدی علاقو ته پاتی شوه داخلك هم په یوپټ مرض اخته وو ، چه له ډېرو عمرونو څخه ددوی پخوانی دښمن پکښی ددغه مرض میکروبونه خواره کړی وو ، دمرض په تشخیص کښی هم له پوره غور څخه کاروانه خیسی شو ، نه پوهیږم د کوم یوه ډاکتر په نظریه چه داورسوی په اور رغیږی دپیسو ورکولو سلسله شروع شوه ،

ددښمن د کلدارو شرنګ هم په خلکو کښی څه قدر پریشانی پیدا کړه ، پوهه او تعلیم نه ؤ ، دملیت او قومیت ټینګ روح له پخوانه نه ؤ روزل شوی ، نو ځکه دروپو دسیلاب په مخکښی دخلکو وارخطائی زیاته شوه او ډېر خلك په دې چرت کښی ولویدل چه دغه دګټی او استفادې وخت دی . دې خبرو او دې قصو لانجو څه قدر دفکر خاوندان په تراره کښی واچول چه کوم دارو چه ددې مریض دپاره ښه ګڼل شوی وو ؛ هغه خو دمریض دپاره لابد شول داخبره به په دې ځای پرېږدو ، دا دپوهو ډاکترانو کار دی چه دخپل مریض دعلاج دپاره آخری قوت په کارواچوی او ددې مریض دپاره د کومی بلی دواغم وخوری مونږ دغه مریض ته دومره وایو چه زړه قوی ساتل او خپل ځان نه بایلل هم دمرض دښه کېدو سره ډېر کومك کوی پام کوی ء چه وارخطا نشی ء ، ددښمن په خوږو ګولیو ونه غولېږی ء ، ددې مرض نه خامخا جوړیږی ء په نړۍ کښی دعلم او پوهی نمر راختلی دی ، ډېر واړه واړه قومونه دغلامۍ له رنځ نه خلاص شول . تاسی به هم ډېر زر دمحکومیت له ناکاره رنځ نه جك جوړ شی ء خو هله چه دپوه او ناپوه ډاکتر بیلتون وکړی ء او ځان هر هر چاته ونه سپاری ء چه ستاسی

(پاتی په دریم مخ کښی)

د ښاغلي سیال په قلم

مړاوی گل

دژمی دساړو زور دی، کړنگې څلې دی، هرچا خپل ځان یو په دوه کړی دی او تو دې جامې ئې په ځان امبار کړې دې او دساړو دلاسه هر څوك لېږ و ډېر کړوپ روان وی. هغه زلمیان چه په اوړی کښې به ئې دخیاله سراړولی ؤ او د لنډو لستونو په کمیس او لنډ پتلون کښې به لیدل کېدل اوس ئې هغه د ځوانۍ نشی د ښودلو مزه نشته دی، په سرئې ټوپۍ او په غاړه ئې د کمیس نه علاوه تو د جا کټ او توده وړینه کورتۍ اوښه گرم کوټ لیدل شی، هغه پیغلې چه څو موده مخکښې به په پوندورو بوټانو کښې گرځېدلې اوس ئې دسایبر یادسوز و عسکرو په شان تودی را بړی موزې ښو کړې دی او په کوټ جا کټ کښې ئې ځان نغښتی دی او دنریو ور پښمینو جرابو په ځای دگره تود پتلون اغوستلو ته مجبوری شوی دی. په دې وخت هر څوك دساړو نه سرټکوی او تاودو نغریو ته ئې تلوسه وی، دمړو خلکو په کور کښې خو، ښی تودنۍ لگېدلی دی او ښه په مزه په کښې او سېږی دمنځو میانه خلکو که هم تودنۍ نه وی نوسندلۍ خوشته او که بادام، پسته او چا کلیټ به وی نو په وچو توتانو او دغوزانو په چغزو خوئی شخوند مات کړی وی،

(د دوهم مخ پاتی)

په ژوندانه لوبی و کړی - یو بل شی چه تاسی له دې ټولو کړاو ونو څخه خلاصو لای شی هغه میړانه. زړورتیا. توره او توکل دی که په خپل خدای او خپله پښتنی توره مو توکل و کړاو دپلرونو او نیکونو په لارمو قدم کېښود نو دادچل ول جالونه او دامونه به ټول وشلیږی. میدان به صاف او پاك شی او تاسی به په خپل وطن کښی خپل ځانونه آزاد او خوشحاله ووینیء - ټول رنځونه به مولیږی شی، وجود به مو روغ رمټ او بی وټه شی او داستعمار له میکروبونو څخه به نجات و مومیء!!

په دې وخت کښی ستاسی دپاره دخوشحال په دی بیت عمل پکار دی چه وایی:

یا تکیه دیوه خدای ده یا دتوری - په جرگو مرکو نشی کار تمام (رښتین)

خوواه! دهغه چا په حال چه دنغری دتودېدو له پاره ئې دداشونو او تنورو نو ایروته سترګې نیولی وی اودشپې په زړه پرستن کښې ټول یوه کورنۍ سره راینډېږی او دورځی دنمر په پیتاوی پسی خیراتی اپیل کوی، په دی وخت کښې ضرور دتودې سړې اغیزه، ریرش او والګی، ټوخی پیدا کېږی او دنازك مزاجو او نازولو خلکو له پاره خوداسی هوا ټوپك وی.

په دانژدی ورځو کښې مودیوه صاحب دناروغتیا واورېده، نواخلاقاً دهغه پوښتنې له پاره دیو دوونورو ملګرو سره روان شوم، هلته چه ورسېدو ددروازې د ټکولو سره سم دصاحب نوکرراغی اومونږ ته ئې دانتظار دخونی رهنمائې وکړله، لږساعت وروسته ییانو کرراغی او مونږ ئی د صاحب آئینه خانې یا ګل خانی ته بوتللو، داځای ماته بیخی نوی ؤ ځکه داسې ځای می کله نه ؤ لیدلی. د کوټې سازو باز لاپرېده، عجیبه خودا ده چه په دې وخت ګښې دسروې ونې هم پاڼې رژولی دی اوشین بوټی خواډونه ښکاری خودلته راز، راز ډول، ډول ګلان اوشنه بوټی وو، زه دې نوې عجیبه نظارې ته حیران شوم چه دا ګلان څه رنګه شنه او تازه پاته شوی دی؟ خپلی دې حیرانتیا او بی خبرۍ پوښتنی ته اړ کړم نوله یوه ملګری څخه مې پوښتنه وکړه: داڅه رنګه چل دی؟ چه نور هرڅه وچ دی او دا ګلان شنه او تانده پاته دی؟ ملګری وویل چه لږ شانتی سترګی وغړوه او وګوره چه ددې ګلانو د ساتنې دپاره څومره بندو بس شوی دی، لاندې باندې داد هنداری کوټه او په منځ کښی ئې لګېدلې تودنۍ، داخو څه ستا کور نه دی چه دډاك ژر ده تری ډېره ښه سود منه ده، دا خود ..... کوردی، کور!! ایمان دې نصیب شه!! خلك داسی ژوند کوی!! ژوندون خودې ته وائی!!

دې کښې صاحب دخپلو ګلانو په لیدلو اوپلټنو بیل وکړ، خونا څاپه ئی په یوه مړاوی ګل سترګی ونښتې!! او مؤظف نوکر ته ئې وویل چه داولی؟ او ته دڅه دپاره ئی؟ دا ګل ولی مړاوی دی؟ او څه پرې شوی دی؟ ښه ده!! بخت دې ویښ دی چه دا میلمانه ناست دی خو چه دوی ولاړشی نو که خیر ؤ بیا به له تانه ښه سخته پوښتنه وکړم!!

صاحب په قهر کښې ډوب دخپل نوکر په دګلو بوخت ؤ، ما ډېر ورو خپل ملګری ته په غوږ کښې وویل: ګوره! چه دګل د مړاوی کېدو پوښتنه دا صاحب کوی!! نو ددې سړی دزړه د مړاوی کېدو پوښتنه به لوی خاوند تعالی نه کوی څه؟ ملګری راته وویل چپ شه!! دا څه لګیا ئی!! څوك به دګل په مړاوی کېدو مالیار نه دګی څه؟ ماویل خوزه هم وایم چه دسړی په مړاوی کېدو به خدای څوك نه ترقی څه؟ هغه ویل ګل خو ګل وی او خاوند لری!! ماویل داهم سړی او د خدای مخلوق دی کنه او لوی خاوند لری!!

په دې کښې صاحب ناڅا په د میلمنو خواته مخ را وګرځاوه او زمونږ دیو ملګری سره ئی مخاطبه شروع کړه خوزه په دغه وخت کښې درنګارنګ خیالانو په طوفان کښې په دې فکر ډوب تللی وم او په زړه کښې مې دا تېرېده چه ارمان په دنیا کښې د مړاوی ګل په اندازه د مړاؤ او خفه زړونو پوښتنه هم کېدلی، نو د مظلومانو چیغې او دظالمانو د کردار د کرکې نه ډك او زړه غوځوونکی مناظر به چانه لیدل!!



د جبران خیل جبران اثر :

مترجم ښاغلی عبدالقدیر فهیم .

د بنفشی گل

د چمن په خیابان باندې یو ښکلی او خوش بویه د بنفشې گل ؤ ، چه د خپلو اوږدو اوږدو وښو په کړیو کښې ټالونه خوړل اوله خپلو گاونډیانو سره ئې په بېغمه زړه ژوند تېراوه .

بنفشې ، یوه ورځ سهار چه د پرخې تاج ئې په تندی ایښی ؤ سرهسك کړ ، اخوا دېخوائې وکتل او په یوه هسك اوښایسته گلاب باندې ئې سترگې ولگېدې . گلاب له « غروره ډك » سرداسې جگ نیولی ؤ لکه په زرغون څراغ کښې چه داور لمبه بله وی .

بنفشې خپلې شنې شونډې پرانیتلی او په ساړه اسویلی کښې ئې دې ویلو ته ځان جوړ کړ :-

« په نباتی خوشبوئیو کښې زما برخه څومره لږ ، او په گلانو کښې زما درجه څومره خواره او بېقدره ده . فطرت زه حقیره او بی بسه پیدا کړم چه د سپېرو خاورو پرمخ خپل ژوند تېر کړم - نه د شنه آسمان خواته غاړه هسکولی شم او نه د لمر پلوته مخ گرزولی شم . »

گلاب د خپل گاونډی گل ، بنفشې گلې گوزارې واورېدې او په کټ کټ خندا کښې وویل :-

« ته په گلانو کښې څومره پیمخې یې ! هغه نعمت چه ستا په نصیب دی افسوس ! چه ته د هغه به قدر او قیمت نه پوهېږی ، فطرت تا ته هغه خوشبوئی هغه ښکلا او هغه دلربائی درکړې ده چه اکثر گلان ترې محروم او بې برخې دی ، خپل زړه له داسې ناولو اندېښنو او شیطانی آرزو گانو څخه پاك کړه او په خپل تقدیر خوشاله اوسه ، تا ته باید معلومه شی چه هغه څوك چه بل ته لاس ور ټیټوی گواکې خپله مرتبه لوړوی - او هغه څوك چه حرص او طمع کوی گواکې نقصان او تاوان ځانته راغواړی » د بنفشې گل ځواب ورکړ :-

« گرانه گلابه ! ته - ما ته د زړه ډاډرا کوی ، ځکه تا ته هغه ټول امتیازات حاصل دی کوم چه زه ئې په ارمان کښې مرم ته په تحکمانه لهجه زما دلږ زورۍ احساس ورکوی ځکه چه ستا مرتبه لویه ده . مگر په بدنصیب زړونو باندې د کامیابی او کامرانۍ نصیحتونه څه اثر کولی شی ؟ اف ! څه بی درده او بی عاطفې دی هغه زړونه چه بیوزلی د فصاحت او بلاغت پا زور قانع کوی . »

فطرت د گلاب او بنفشې خبرې واورېدې وروئې ځان وغزاوه او په نسبتا جگ آواز ئې وویل :-

« گرانې بنفشې ! په تا څه وشول ؟ - ما خو ته ، ستا د عاجزۍ له امله زړه وړونکې ، ستا د نزاکت او پوستوالی په سبب خوږه ، او ستا د غربت او بی بسۍ

له کبله شریفه کښلي - خوناوړه خواهشا تو ته هم کمراه کړي - بې لحایه عظمت ستا عقل هم درنه واخیست ؟ »

بنفشي په ډېره آرزومندانه لهجه وویل :-

« اي دعظمت اوجبروت مېرمني ! اي کرانې اوخواخوږې موري ! زه دخپل زړه ټول ارمانونه اودرستې آرزو کانې د رته وړاندې کوم اووایم چه زما التجا قبوله کړه - اوله مانه ، که یوه ورځ وی هم خیردی - خود کلاب کل رانه جوړ کړه ... »

فطرت په قار لحواب ورکړ :-

« ته ، یوهېږې چه څه غواړې ؟ تاته نه ده معلومه چه په ظاهری عظمت کښې خومره بلاوې پټې پرتې دی ، که زه ستا قد لوړ کړم او ستا ښه بدله او کلاب درنه جوړ کړم ، نوهغه وخت به بیا پښېمانه شې - اوبې کټې پښېمانتیا خه ... »

بنفشي وویل :

« تهزماوجود په یوه جګ اوهسک غاړی کلاب باندی بدل کړه ، بیانو کههرڅه وشول دهغه ملامتی به تاباندې نه - بلکه زما دحرص اوطمع په غاړه به وی »

فطرت لحواب ورکړ :

« اي نایوهی اوسرزوری بنفشي ! ماستا التجا قبوله کړه ، خوکه مصیبتونو اوکړاونو را ایساره کړې نودهغه شکایت به له ما څخه نه کوې ، هره بلا چه درپېښېږی له خپلې خوا به ئې کښې »

فطرت خپلې پټې اوسحر کاره ګوتې د بنفشي پاڼوته وروړې او دستر ګو په رپ کښې له هغه څخه یو ښکلی کلاب جوړ کړ چه په ټولو کلانو کښې هسک اودنګ ؤ .

* * *

ورځ تیره شوه ، په آسمان کښې طوفانی وریځې پیداشوې ، دموجودانو په سکون اوآرامتیا کښې هیجان پیداشو ، برېښناوې وخرکېدې ، تاندې وغرېدې ، دباداوباران اېګرې له چمنونو اوبنونو سره جګړې ته چمتو شوې . دونوخانګې ماتېدې دلویو ونوریښې اونیلې سره وخوځېدلې ، دطوفان خپو سرلوړی اوهسک کلان له خاوره سره برابر کړل - بېله هغه بوټو او کوکبو څخه چه په مخکه نښتې وونور په باغ کښې هیڅ پاته نه شول .

دهوادې انقلاب نسبت نورو باغونو ته هغه چمن نه ډېر تاوان ورساوه په کوم کښې چه دفطرت مور دبنفشي نه کلاب جوړ کړی ؤ .

څنګه چه جګړه (طوفان) غلې شو او وریځې خلاصې شوې نودهغه بې درست کلان ډېرا کښېدو ذراتو غوندې پراوخ اوبل پلوته خواره وار ، پراته وو . له هغې طوفان خېزه هنګامې نه وروسته په بې کښې بې دبنفشي له بوټو څخه اوهغه کلان چه دباغ ددیوال په بېخ کښې شنه شوی وو بل هېڅ روغ اوپرځای نه وه پاته شوی .

دبنفشي یوې تنګې څوتې چه وې د پېغلتوب په شباب راغلې وه دتاشي دپاره سرهسک کښې اووې کتل چه دچمن یونو او کلانو څه تېرشوی دی له خندا شنه شوه اوخپلو سهېلیوته ئې وراري کړې :

« وګوری ، جګړه په هغه کلانو څه وکړل چه په ویاړ او غرور به ئې سرونه جګ نیولی وو »

دبنفشي بل کل وویل :

« که څه هم مونږ په مخکه پراته یو خو دطوفان له قار اوغضب نه خوندی یو » .

دبنفشي دریم کل وویل :

« دې کښې شك نشته چه زمونږ بدن بې سیك اوحقیر دی مګر دتباهی او بربادی زورهم راباندی نه رسېږی » .

په دې وخت کښې دبنفشي د کلانو یاچا ستر ګې پورته کړې اووئې کتل چه دهغه خوانه د کلاب هغه کل پروت دی چه تېر پرون یوې بنفشه وه ، طوفان له خپلې ځانګې څخه پرېکړی ، دجګړې چیاو پاڼې پاڼې غورځولی اوپه لمدو کیاوو کښې داسې خورور پروت دی لکه د صکوم مقتول په تېر کښې چه ددښمن غشې ننوتلی وی . یاچاخپل سر پورته کړ په داسې حال کښې چه خپلې پاڼې لږې خورې وې - خپلو ملګروته ئې په هسکه غاړه وویل :

وګوری، دغه دبنفشی ګل ته انګر ګیرشی.! چاچه د ګلاب دبني دغوره کېدو طمع کړې او دیوه ساعت سر اوږد تیاد یاره ئې ګان د مذلت ابدی کندې ته غوړ ګولی دی - دا منظره به ستاسې دپاره د عبرت سبب شی ».

د ګلاب کوکی یه دې وخت کښې ځنګدن کاوه چه داخبره ئې واوریده نوله قاره سره وریپده خپل پاته قوتونه ئې را ټول کړل او په نیولی نیولی اواز ئې وویل :-

«واوری، اې بې حوصلې او ناپوهانو! واوری،! اې دباد او باران له طوفان نه وپریدونکو! زه تریرون پوری تاسې غوندې یه خپلو شنو پانو کښې ناسته او یه خپل تقدیر قانع وم - دا قناعت یوه دیوالی پرده وه چه زه ئې دژوند له طوفانونو او هنګامو څخه جدا ساتلم. دا هغه پرده وه چه زما وجود ئې دامن او سلامتی په فضا کښې دارام او بیغمی یه بیشه مست ساتلی ؤ، ما کولی شول چه دمځکی پرمخ پروت خپل ژوند تیر کړم ترڅو چه دژمی واورې را باندې واوبښی - اوزه هم دخپلو تیرو مشرانو غوندې دمرګ اوعدم په خاموشه وادی کښې محو شم، دنیستی په تروزمیو کښې ورک شم خو پخواله دې نه باید چه دژوند یه رمزونو او اسرارو پوه شم او دفکر کولو له هغې طریقې څخه بیل شم چه دبنفشې ګل ئې دمځکی پرمخ غوره کوی!

هو! ما کولی شول چه له اسرې نه خپله لمن پاکه وساتم او له هغو شیانو څخه پرهیز وکړم چه دفطرت په لحاظ زما له فطرت نه لوړ او عالی دی، خود شپې په چپتیا کښې مې واوریدل چه له عالم قدس نه دې دیاته دا اواز راته.

« دوجود غایه دا ده چه دماورای وجود دپاره زیاروباسی ».

زما روح چه داخبره واوریده، نوزما درابې په خلاف بغاوت ته چمتو شو زما وجدان هغه مقام ته درسیدو هوس وکړ، کوم چه له ده نه ډېر هسک ؤ زما روح بغاوت کاوه اوزه عالی مقام ته هوسېدم ترڅو چه زما سرکشی یه یوه فعل قوت، اوزما شوق په یوه خلاقه اراده باندې بدل شول. خنګه چه ما له فطرت نه وغوښتل - چه ما ګلاب کړی، او فطرت خو زمونږ د ټو آرزو ګانو خارجی مظهر دی زما داسوال ئې ومانه. دا وې قصه نه ده خو خوخله ایدل شوی چه فطرت خپل آثار او نقشونه په خپل لاس بدل کړی دی ».

ګلاب انګرغوندې غلی شو بیا ئې له ویاړ او غرور نه یه ډکه لهجه باندې وویل!

هغه یوساعت چه ما د ګلاب حیثیت دراوده یه حقیقت کښې مې دیوه پاچا یه خېر تیر کړ - ما کائنات د ګلاب یه ستر کو ایدلی دی، ما دایتر (۱) خوږه مر که د ګلاب یه غوږو واوریده - او دامر وړانګې مې د ګلاب یه پانو امس کړې. یه تاسې کښې خوک شته چه یه دې شرف او امتیاز کښې ماسره دسیالی دعوه وکړی؟ »

د ګلاب غاړه کښه شوه او یه داسې غږ چه دمرګ نغې یکښې دې داخبرې ئې وکړې!

« زه مرم - مرم خو زمایه روح کښې هغه کیفیت پروت دی.

« چه له مانه پخوا دبنفشې پوه ګل هم نه دراود ماته دهغې محدودې دایرې ټول حقایق را ښکاره شول یه کومه کښې چه زه پیداشوې وم - اوهمدغه دژوند مطلب دی.

هو! دا هغه جوهردی چه دورځو اوشپو تریردې لاندې پټ ساتل شوی دی. »

د ګلاب پاڼې ورو ورپیدې او ورژېدې - چه یه خبره کښې ئې یو سپېڅلی تبسم ښکاریده - دا تبسم چه عالی ارزو ګانو ئې دژوند تصدیق کاوه - دفتح او بری تبسم - خدائی تبسم.

والا حضرت شهزاده احمد شاه خان د سروبی د برق د لوی تونل (چه د غره
په مینځ کښې واقع دی) د مفصلې کتنې نه وروسته دبهرته راوتلو
په حال کښې لیدل کیږی .

والاحضرت شهزاده احمد شاه خان د سروبی د فابریکې د مختلفو ځایو د کتنې
نه وروسته د کارد برمخ تګ اوبنه انتظام له امله خپله خوشحالی ښکاره کوی
او د فابریکی د رئیس او کارکونکو ته نوازش ورکوی .

ښاغلی محمد عمر « بلبل افغان »

ملی صادق څوك دی ؟

ملی صادق هغه پښتون دی ، چه د پښتونستان کوم یو کشر نه کشر پښتون که چېرته د دنیا په کوم گوټ او گوښه کښې ناپوه پاتې وی ، په دې پوه کاندې : چه وروره ! د پښتون او پښتنولۍ غلیمانو د ډېرو کالونو او پېړیو راهیسې رنګارنګ کوششونه کړی دی چه د پښتنو همت او اخلاق ټیټ او داد دنیا بهادر او توریالی قوم چه تل د غیرت او عزت په میدان ولاړ پاتې دی پرېباسی ، او په پرېوتلو قومونو کښې اکثر یه نیستی او ناداری ډېره وی همت او اخلاق هم کمزوری شی مادیات پرست شی په هر کار کښې که څه هم یولوی مطلب او ملی شرف وی د خسیسو مادیاتو لحاظ ساتی خوشې وچ په وچه بدگمانه وې ، وائی ښه که زه د دغه ملی شرف په کار کښې پښتنو ورونو سره ملا وتړم و درېږم نو زما به څه گټه وی ؟ که گټه وی خود مشرانو به وی ، په کشرانو کښې مې هم اورېدلی دی چه فلانکی ته ، هغه ورځ فلانکی مشر شل روپۍ ور کړې او ماله ئې لس روپۍ را کړې زمائی څه زه کلاری کېنم یا یو بل چاسره کېږم چه څه را کوی - دغسې نور بد حرکات !!!

لیکن شکر دی چه غلیمان په خپل مطلب نه دی کامیاب شوی او پښتانه ئې نه دی غلولی - پښتانه د خپل کلك او مضبوط روحانیت له برکته مادیاتو ته هیڅ اهمیت نه ورکوی د مادیات پرستو او عیاشو آرام طلبو خلقو ژوند چه دوی گوری چه هغوی د رنګارنګ خوراکونو او پوښاکونو او معاشونو او دولتونو د لاسه داسې پرسېدلی دی چه نه د پیاده تلو دی نه د یخنی دی نه د گرمۍ نه د لوږې نه د تندې په جنګ وجدل کښې د منډې زغاستی څه چه د خېټې د غټوالی او دروندوالی د لاسه چاپسی را پاڅېدی

هم نشی - نو پښتانه وائی چه قربان د وربشو له وچې روټې او دغرونو له وچو تړو ' او هغه چست چالاك ترنځ دغیشی په شان بنیادمان چه لـکه دغره بازونه په یوساعت کښې ځوړی او پېچومی ورته هېڅ نه ښکاری او تـل لـکه ملا تړلی ورزشی عسکر دننـگ په میدان ولاړ او تل په غلیمانو باندې برلاس دی - مادیات یعنی مال روپۍ پیسی گټل هم په کـار دی لیـکن د عزت مروت په طریقه - نه دخساست او د نائت په طریقه چه دورونړونه بېل شی ' دقوم نه جداشی د پښتنو دډلې نه ووزی په بل چا ننوزی ورك شی ملی شرف ترې پاتې شی - څوك چه ملی شرف نه لری هغه بې غیرتـه وی - ایمان ' دین او غیرت خـو د پښتنو دی روپـۍ ' پیسې او دنیا دې ورکـه شی چه سړی پرې بی غیرته او بی دینه کـېږی رحمان بابا څه ښه فرمایلی دی :

ددنیـا نـاوې پـه مهر کښې دین غواړی
ای رحمـانـه تر ېنه گـرځه لـری لـری


پښتو ادب

ښاغلی بختانی

خیالی آشنا ته:

په وېـه کښې د هجران دزړه رڼامـې ته ئې ته ئې
دخیال اوږ ده دنیا کښې تمنا مـې تـه ئې ته ئې

دمینې په صحرا کښې اودهجر په سودا کښې
زړګی را سره نشته دلر بامې ته ئې ته ئې

داستادزلفو تاردی؟ که زمادا «شب تار» دی ؟
په دې کښې سودائی شومه سودامې ته ئې ته ئې

تیاره کښې به اوسېږمه، په تاپسې کړېږمـه
بل برق اوبرېښناڅه کړمه برېښنامې ته ئې ته ئې

ساکن په ویرانه شوم اوله خلقو بېګانه شوم
یم مینې مجنون کړی او لیلامې ته ئې ته ئې

بستر د درد وغم کښې او دمینې په حرم کښې
بل نه لرم ملګری خاص آشنامې ته ئې ته ئې

نه خوب شته نه آرام شته، نه مې فکر نه مې پام شته
تصدیق او تصور، صغرا کبرامې ته ئې ته ئې

نه رنځ دی نه مرض دی، ستاوصال زماغرض دی
طبیب نه پېژنم دزړه دوا مې ته ئې ته ئې

دخیال په سمندر کښې اودمینې په محشر کښې
بېړۍ مې طوفانی ده ناخدامې ته ئې ته ئې

دمینې مسافر یـم او دحسن مجـاور یـم
په لار دمحبت کښې رهنما مې ته ئې ته ئې

نفرت له بندګی کړم او آزاده زندګی کړم
دهېچا غلام نـه یمه آغـامې ته ئې ته ئې

سلګۍ دبختانی دی که لوګی دسپلنی دی ؟
دزړه منقل نه خېـژی مدعا مې ته ئې ته ئې

❀ ❀ ❀

دمحکوم پښتونستان حال

لیکونکی ښاغلی پرهېز

دتیارې ژوند

پښتون یم مسلمان په عقیده کښې ډیر محکم یم
لاهو سترګو په نم یم لاهو سترګو په نم یم

محروم له آزادۍ نه ولې زه زوی دآدم یم
لاهو سترګو په نم یم لاهو سترګو په نم یم

وائی چه رڼا شته دی
هرڅه کې ښکلا شته دی

مې شته دی مینا شته دی
حام شته دی صهبا شته دی

خوزه ترینه محرومه وچې شونډې ډوب په غم یم
وائی چه جمال شته دی
ستوری لمر هلال شته دی
دا ټول بولم عبث چه دم په دم فنا ته سم یم
وائی چه دنیا شته دی
برخه دهر چا شته دی
یوزه ظلم کده کې سوی سکور په خو رقم یم
ټول خلك سیلو نه کړی
زلمی نجونه نازو نه کړی
خوزه یوازې ناست دبد بختی لوی ماتم یم
لار او ګرنګ نه وینم
صید او خدنګ نه وینم
پټې سترګې یونم بی خبر له زیات وکم یم
شپه دی رڼا نشته دی
پوه او دانا نشته دی
دالیو نتوب ګوری چه خارو دصبحدم یم
مړه استعداد ونه شول
اوښك می سیندو نه شول
خو بیا طوفان اخستی بی خبره له ستم یم
داچه زه حیران ناست یم
سرې سترګې ګریان ناست یم
څه ګیله له نورو داله خپلو زه کړم یم
داژوند مې بدل کړه نور
یاڅیر مه اجل کړه نور
ای پاکه څښتنه خو ښ تردې ژوند په عدم یم
په چا چه می اعتبار وکړ
خپل ځانته ئې کارو کړ
زه «پرهیز» تېروتی په هرچا په دغه چم یم

لاهو سترګو په نم یم لاهو سترګو په نم یم
وصل او کمال شته دی
حال شته استقبال شته دی
لاهو سترګو په نم یم لاهو سترګو په نم یم
عیش عشرت هوسا شته دی
نه زیاتی په چا شته دی
لاهو سترګو په نم یم لاهو سترګو په نم یم
دښکلو دید نو نه کړی
مست مست اتڼو نه کړی
لاهو سترګو په نم یم لاهو سترګو په نم یم
شپون او پلنګ نه وینم
مست او ملنګ نه وینم
لاهو سترګو په نم یم لاهو سترګو په نم یم
غم دی خندا نشته دی
سترګی بینا نشته دی
لاهو سترګو په نم یم لاهو سترګو په نم یم
خاورې ارمانو نه شول
جوړ ترې طوفانو نه شول
لاهو سترګو په نم یم لاهو سترګو په نم یم
یاجاهل نادان ناست یم
هم څېری ګریوان ناست یم
لاهو سترګو په نم یم لاهو سترګو په نم یم
جوړ مې دژوند چل کړه نور
خلاص مې له دغل کړه نور
لاهو سترګو په نم یم لاهو سترګو په نم یم
هغه په ما نا نارو کړ
په مائې ننګ وعارو کړ
لاهو سترګو په نم یم لاهو سترګو په نم یم

ښاغلی سمیع الدین (علیل افغانی)

د دردنارة

سترګې ارمه خو زیبا مخ دجانان نه وینم
سحر وافسون دی په ماشوی شوخ چشمان نه وینم

د تصور او تخیل په نامحدوده دنیا
په شاو خوا کښې ځان نه پورته بل انسان نه وینم
د تمدن دفافلې دسالاری دعوی کړم
حقیقت دادی چه کاروان ځینې نشان نه وینم

د سرمستۍ سندري وايمه نېشه گـر ځمه
دجهالت په ميومست يم ځان جهان نه و ينم

ننګ اوغيرت توره لرمه خوتمرين له پاره
د عزيز قام دقتلکا نه بل ميدان نه و ينم

دمظلومانو په دنيا ډېـر ا قتد ار لرمه
په دنيا نه يم زوداورخواته بل ځوان نه وينم

دتهور درسونه تل تـکرار وم په مينه
ډيوه دروح اوحقيقت نورو عرفان نه وينم

خود نمائۍ له پاره تل دحق ناري وهمه
پخپل قاموس دژوندانه کښې داعنوان نه وينم

غروال پښتون يم اودغرو په مغارو کښې اوسم
داسې مسکن داسې مامن په کل جهان نه وينم

دتنبليو په صحنه کـښې چه چکر وهمه
داسې فېشن داسې نګهت په ګلستان نه وينم

زمادنيا کښې داغراضو دودجګېږي ځکه
دحقيقت روښانه لمر پاس په آسمان نه وينم

په نادانۍ اووحشيتوب تېرشوژوندون مې عبث
اوس چه تدقيق کوم دځان نه بل نادان نه وينم

نن دوحشت سو ر ي نـا ري د حسرت چيغې کـوم
يد ي مرض (عليل) گر ز ېږ مـه در مـان نه و ينم

❀ ❀ ❀

ښاغلی محمد بشير لودين پښتنی محصل په امريکا کښې

له نيويارك څخه

د آتوم زړه چه وچاود ، دغه راز ځنی غيان شو
هغه قوم چه غفلت کاندی پېشرفت ورباندی گران شو

نو ی عصر طلوع و کړه ، تقاضا د عصر داده :
چه هر قوم دې گړندی شی ، که دانه نصيب ئې زيان شو

مدنيت د ی بنا شوی ، علميت باند ی کا مله
هر يو قوم چه عالم نه دی ، گـلستان ئې په خزان شو

د بخت ستوری ئې ځليږی ، هغه قوم چه علم پيشه کړی
بد بختی دهغه قوم ده ، چه دجهل په زنـدان شو

هغه قوم به ترقی کړی ، چه په راز داتوم پوه شی
نن دوران دعلم اوساينس دی ، په دنيا کښې دا بيان شو

اې پښتون ځلميه يوه شه ! که غواړی بريالی شی
نوزيور دعلم په ځان کړه . چه رواج ددې زمان شو

دخپل قام وحال ته گوره ! دغربت علت ئې څه دی ؟!!
يومهم علت ئې دادی : چه له علمه روی گردان شو

ته د علم علم کړه پورته ، لار ښو و نکی دخپل قام شه
زه «لودين» به اعتراف کړم ، چه رښتيا دې ټينګ ايمان شو !!

●●●●●●●●●●●●●●

پوښتنه گرو ېږنه :

له قندهارنه

ښاغلی باور رحیمی :

راغلی لیك

ع، (رشتین) صاحب د پښتو ټولنی لوی مدیر

په نسبت ددی چه په کابل کښې د پښتو ټولنی لوی مدیریت خاص د پښتو د ترقۍ او د پښتنو د سعادت دپاره جوړ شوی دی نو لازمه ده چه د پښتو ټولنی سره د پښتو د پیشرفت او د پښتنو د نیکمرغه ژوندون په نسبت عملی نظریات اولار ښودنې موجود دی وی په لحاظ ددی چه تاسو د پښتو ټولنی مشریاست ضروری ده چه د پښتنو د لارښودنی دپاره تاسو سره ښه متین معلومات پراته وی چه په وخت د ضرورت کښې ورنه کار واخلی . :-

زه د یو پښتون په حیث لاندی یو څو پوښتنی کومه هیله ده چه د خپلی وظیفی په تقاضا به ځما د پوښتنو ځواب راکړی .

١ :- پښتو ژبه به په افغانستان کښې رسمیت پیدا کړی او که نه، که چیری رسمیت پیدا کولی شی هغه به کله وی آیا مونږ به ئی ووینو؟

٢ :- پروسنږ کال چه په هر ولایت کښې څو څو نفر وستاسو د پښتو د کورسو ممتحینو ته امتحان ورکړی دی او ممتحنه هیئت هغه وګړی کامیاب معرفی کړی او په اخبارونو کښې د هغوی کامیابی نشر شوی ده هغو خلکو ته شهادتمامه ولی ورنکړی شوی ؟ .

٣ :- یو مدیر د مطبوعاتو که د یو چا د شخصیت پر نسبت د حقیقت اشاعت نشی کولی ؟ دغه مدیر به په نزد د جامعی کوم مسئولیت لری او که نه ، که لری ئې نو د هغه د مسئولیت ښکاره کول به په څه صورت سره وی او جزا د هغه به څه شی وی ؟

٤ :- قضات د قره قلۍ خولۍ وا ی نه په سر کوی ؟

٥ :- درشوت د اخیستلو گناه ډیره ده که د حق سره مخالفت ؟

٦ :- په تو ده کښې د جامعې خائن څوك دی ؟

٧ :- درشوت اخیستل کوم مقام تقویه کوی ؟

٨ :- د نکتائی اختراع چا کړی ده سبب د اختراع ئې څه شی ؤ او مونږ خلك ئی د کوم مرام دپاره پخپله غاړه کښې اچوو؟

٩ :- آیا د اکیدلی شی زمونږ د نرو او ښځو جامه او حربی سامان به زمونږ پخپل مملکت کښې تکمیل شی او د خارج د احتیاجه ځنی به خلاص یو .

١٠ :- دا ممکن لری چه قومی او ثروتی لحاظات نه وی او امتیازات لیاقت او علمیت ته ورکړ شی .

١١ :- څنګه چه او ریدل کیږی په کابل کښې مطبوعات، نویسندګانو ته په مقالو باندی روپۍ ورکوی مګر په ولایاتو کښې د دغی خبری دپاره منظوری نشته دی دا یو بام او دوه هوا څه معنی لری ؟

دغه یو ولس پوښتنې چه په پورته ډول ماوکولی امید لرم چه په هغه صورت سره چه زما قناعت حاصل کړی ځواب ولیکی . چه ځما او د نورو ورونو د استفادې موجب وګرزی نور ډیر احترام .

د پوښتنو ځواب

گرانه باوره !

د پښتنو ټولنی لوی مدیریت بیشك چه د پښتو د ترقۍ او د پښتنو د سعادت دپاره جوړ شوی دی لاکن تاسی داخبره باید په زړه کښی ولرئ چه پښتو ټولنه یوه علمی او ادبی موسسه ده او په دې وخت کښی دځینی نیمگړتیاؤله کبله یواځی په ادبی خدمت بوخته ده د پښتو ژبی دادب . تاریخ . گرامر او لغت په باب زمونږ سره ښه معلومات شته که تاسی له مونږ نه دغه راز پوښتنی وکړئ نو حاضر یو چه ستا دزړه په خوښه ځواب درکړو او که ته له مونږ نه دنکټائی داختراع کوونکی پوښتنه کوی نودا به ستاخپل ښه گمان وی چه پښتو ټولنه د هرقسم معلوماتو مرکز گڼي ، مگر ډاریږو چه بله ورځ رانه داتومی بم دجوړ ېدو پوښتنه ونه کړی چه څه رنگه جوړ ېږی ؟ ولی چه دداسی سوال ځواب به مونږ سره هم نه وی - پاتی شوه د پښتنو د نیك مرغه ژوندون مسئله داهم غټه خبره ده او گمان کوم چه یواځی پښتو ټولنه په دې برخه کښی مسئوله نه ده بلکه په دې باب کښی درست پښتانه او خصوصاً پښتانه مشران مسئول دی ، په دی وطن کښی ډېر غټ غټ پښتانه شته چه ښه ژوندون خدای ور کړی دی . دماغونه ئی تازه دی ، په گیډه ماړه دی له اقتصادی تنگسونه خلاص دی هم فکر کولی شی او هم عملا د پښتنو د نیك مرغه ژوند دپاره کار کولای شی - که ته ډار ېږې او دغو کسانو ته گوته نه نیسی نودادی ستا په وکالت به ورته مونږ ووایو چه د پښتنو د سعادت دپاره عملی نظریات او لار ښوونی وکړئ . د پښتنو د نیکمرغه ژوند مسئله یوه سیاسی او اقتصادی مسئله ده او په دې کښی له پښتو ټولنی څخه نور خلك زیات صلاحیت لری . او که بیاهم زمونږ نه پوښتنه کوی نو زمونږ ځواب دادی چه د پښتنو د نیکمرغۍ لوی سبب د پښتو ژوندی کېدل او د پښتو رسمی کېدل دی که په دې لار کښې څه کولای شې نو گوره چه یوه دقیقه ورته ونه گورې .

گرانه باوره - ته باورولره چه ستا ډېرې پوښتنې په مونږ پوری څه اړه هم نه لری

خو دادی بیاهم کوښې کوو چه څه نه څه ستا ځوابونه ووایو ، او که ستا قناعت پرې حاصل نشو نو بیابه کوم دایرةالمعارف ته رجوع وکړې والسلام .

١ـ پښتو ژبه خو اوس هم په افغانستان کښې رسمیت لری او زمونږ دملی شوری اصولنامې په پښتو او فارسی خپریږی چه دی ته تعاملی قانون وایی او که ستا مطلب یه‌دفترونو کښې دپښتو داخلېدل وی نوددې دپاره هم څه مانع نشته هر پښتون کولای شي چه په پښتو مکتوبونه ولیکی ـ او که ستا مطلب په تسولو دفترونو کښې دپښتو عمومیت‌وی نوددې خبرې ځواب زمونږ له صلاحیت نه جګ دی . هروخت چه له پورته ځایونو څخه امر وشو نو دا کار بیا په یوه ورځ کښې عملی کیدی شی ـ مګر چه دا امر به کله وشی دا مونږ ته هم معلومه نه ده .

٢ـ دولایاتو دپښتو دکامیابانو شهادتنامې ترتیب شوی‌دی او دمرکز دکامیابانو سره به یوځای توزیع شی .

٣ـ هر څوك دمطبوعاتو مدیروی او که د بل ځای مدیر وی ، چه د حقیقت اشاعت نشی کولای ؛ هغه‌په معنوی لحاظ یو کمزوری اوضعیف‌انسان دی او دغسی سړی دضمیر او وجدان په محکمه کښې مسئول ګڼل کیږی ـ د دغسی سړی مسئولیت پـه دې صورت ښکاره کیږی چه ستاغوندی خلك وربانندی په اخبارونو کښې مضامین ولیکی .

٤ـ قاضیان دقره قلی خولی ځکه نه په سر کوی چه اقتصادیاتو ته ئې صدمه‌رسیږی .

٥ـ رشوت اخیستل‌هم‌په‌حقیقت کښې دحق سره مخالفت‌دی ، نو په دې حساب ددواړو مأل یوشی دی او څوك چه حق پټوی یعنی دحق سره مخالفت کوی هغه ته ظالم او ګناه ګار ویلی شوی دی . نو په دې لحاظ ددواړو ګناه یوشان ده .

٦ـ دجامعی خاین هغه څوك دی چه حق پټوی ؟ اوحق د پښو لاندی کوی .

٧ـ د رشوت اخیستل دحق پټولو مقام تقویه کوی .

٨ـ دنکتائی مخترع ماته معلوم نه دی ، داختراع سبب دغسی وبوله ، لاکن زمونږ خلك ئې بې له کوم علت څخه محض داروپایانو دتقلید په غرض استعمالوی .

۹ـ داخبره خو دامکان په دایره کښې داخله ده چه زمونږ دنرراو ښځوجامې او حربی سامان په خپل مملکت کښې تکمیل شی ـ ولی چه ټول ملکونه په اول کښې نوروته محتاج وو او بیائی د کار اوفعالیت په اثر ځان دپردو لهاحتیاج نه خلاص کړ که مونږ هم کار او فعالیت وکړو او دصداقت او ایمانداری روح هم په ځان کښې پیدا کړو تو دغه کار ممکن کیدای شی .

او که په دې صورت پاتې شو څنګه چه یونو خدای خبر که دا وړی شړی شی '

۱۰ـ دا امکان هله پیدا کیږی چه شخصی خیالات له منځه ووځي او هرڅوك دحق پیروی وکړی ـ او له بلی خوانه په جامعه کښې حقیقی علم او پوهه او صحیح اخلاق منځ ته راشی .

۱۱ـ په کابل کښې خو ډېر شیان شته چه په ولایاتو کښې نشته . ته باید دونی بیخ او څانګی یومحیط یایو بام ونه بولې ـ مرکز باید له اطرافو څخه ډېر قوی وی او دا هله کیږی چهمرکزته ډېره انرژی ورسیږی . او که آسان ځواب غواړې نوهغه دادی چه دولایاتو دپاره په بودچه کښې زیاته منظوری نشته .

* * *

ستا د پوښتنو ځواب په پورته ډول ولیکل شو ـ امید کوو چه څه قدر به قانع شوی یی او که نه ئی قانع شوی نو بیا درته دعا کوو چه خدای دې جوړ که ـ والسلام

.....

پخوانی پښتانه

ښاغلی م : ننګرهاری

مرحوم قاضی محمد هاشم

دلنډه بوچ د کلی طول ـ عرض البلد خوماته نه شی معلومیدی اوداحکه چه «جزایر خالدات» اوس اوس دسمندر د اوبو لاندې دخپل خلود عمر تېروی اود «گرین ویچ» نه د کامې پورې دزمکې کچ کول هم څه آسان کار نه دی دتوا و نه همدا ښه ده چه لنډه بوچ د کامې پو نامتو اومشهور کلی دی د «اخون کلی» نه ورته ددوه کروه مزل لاره ده مګر که د «سنګرسرای» نه ورته څوك راځی نو باید چه درې زیات و کم کروه مزل وو هی .

داخبره موله یاده ونه وځی چه په سن ۲۸ کې دجناب رشتین او نورولیکوالوله خواچه په کامه کې د څو کلیو نومونه بدل شوی وو نو په هغې کې دلنډه بوچ نوم هم په «رحمت کلی» اړول شوی ؤ .

«رحمت کلی» !!: دا عنوان پخپله دخپلو محتویاتو اوهغو خزانو یو رمزدی کومې چه په دې کلی کې دفطرت ودیعتونه بلل شی دمذهبی علومو دطالبانو په روایاتو کې داخبره دپرزیات شهرت اری چه: «دبخارا طالبانو به پخپل ملك کې په دې تعجب پوښتنی اتنې کولې چه «شهر لنډه بوچ چند دروازه دارد ؟ یك شهر وچارده مدرس ؟؟» په افغان کې دملا بشر کورنی هم دپرعلمی شهرت اری وائی چه ملا بشر اخون به ویل «علم یك شجر است درخانهٔ ملا بشر است یك شاخش به لنډه بوچ هم رفته ! »

دادومره روایات اوشهرت کومه افسانه نه ده پښتون قام له چه پاك خدای کوم فطری ذکاوت ورکړی نو له هغې نه هیڅوك هم انکار نه شی کولی اوچا ښاغلی ته چه تجربه وی نو هغه په دې خبره یقین کولی شی چه کامه وال طالب علمان دذکاوت اوزیرکی نه څومره برخه اوبهره لری؟ لنډه بوچ کلونه کلونه دعلم زانګو وه اودخدای پاك رحمت پرې دعلم پمشکل کې وریده .

ستاسی دې داشك پیدا نه شی چه ګوندې لنډه بوچ به شاید لږ ترلږ زر انه سوه کوره کلی وی



نه! نه! لنډه بوچ فقط اوفقط دیوه خاندان دسرپناهی اوداوسیدلو دځای نوم دی او که نن سبا هغی خواته څوك ښاغلی سرورښکاره کړی نو دیوڅوو دانو کوټو اوڅو کنډوالو نه پرته نورڅه نه لری ولې که دعلم اوعالم مقایسه یکې وکړی شی نو هلته سړی دې ته اړشی چه ګوتې په خوله کې ونیسی اود زړه داخلاصه پرې غاښونه کیښنډی .

په دې تېرو څو کلونو کې چه په لنډه بوچ کې کوم دتدریس والاعلماء تېرشوی دی نو علی الاکثر دهغوی نومونه دادی :

مرحوم مولوی عبد الحمید .

مرحوم مولوی عبد القدیر .

مرحوم قاضی عبدالکریم .
مرحوم مفتی محمد صادق .
مرحوم قاضی محمد عارف .
مرحوم مولوی رحمت الله .
مرحوم مولوی محمد هاشم .
مرحوم مولوی حبیب الرحمن
او . . . .

پهدغه علاقه کې دعلم اوفضیلت دډېر ښت له کبله وطالب علمانو ترمنځه مسابقه شروع شوې وه اوچه ترخوپهٔ ئې په کاڼاغوربند ، چکېسرمار تونګ دپوبند ډیلی اونورو ملکونو کې دعلومو متداول اومصطلح نصاب مکمل نه کړ ترهغې په ئې د وطن خواته کتل قدري هم نه .

پهدې وجه دلنډه بوچ پهبرخه باندې پهاولسی چارو اوحکومتی نظام کې ډېرامتیازات ومنلی شول اونهایت ډېرقدر، عزت اواعتبار ئې پیداشو .

دلنډه بوچ ددغوعلمی اومتدینو شخصیتونو پهقطار کې جناب مرحوم مولوی محمدهاشم په برجسته او متمیز حیثیت شامل دی ددې جناب پهلقب قاضی صاحب هم ؤ اوتاسې ته وروسته داخرګندیدای شی چهده تهولې قاضی صاحب ویل شو .

پهسنه ۱۲۷۰ کې دجناب مرحوم مفتی محمدصادق آخندزاده کره دلنډه بوچ په کلی کې وزېږېد اوپههمدغه کلی کې ئې دخپل محترم پلار پهدرسګاه کې ابتدائی تحصیل وکړو .

دده دتحصیل دوهمه پرده دسفرده - په ننګرهار پېښور ، دا ګی کې ئې دتحصیل سلسله اوزده کړه اوخه ډېره موده پس ئې پهنوښار کې دعلم اوفضیلت پګړی وتړله - دی چه کله دعلم دتحصیل نه خلاص شو نودافغانستان خواته ئې مخه وکړه په دې وخت کې په افغانستان باندې دوالاحضرت امان الله خان دسلطنت شپې ورځې وې - په کابل کې دقاضیانو دکورس په نامه دقاضیانو دتربیې دپاره یوه موسسه موجوده وه او دی په دغه وخت کې کابل ته ددارالقضاة دشمول دپاره راغی .

مرحوم مولوی صاحب په کابل کې دهمدغې مدرسی پهخلورم صنف کې شامل شو اودجناب مولوی یارمحمد خان وردګ د تعلیم لاندې (چه اوس دکابل پهعربی دارالعلوم کې تدریس کوی) لدغه صنفه فارغ شو اوزروریسې دننګرهار پهچغه سرای کې قاضی مقرر کړی شو - دچغه سرای د څه مودې قضانه وروسته دقلعهٔ شاهي محکمې ته را بدل شو (دامحکمه دلته موقته وه) .

ددې نهوروسته دشینوارو پهلته کې داچین قاضی شواو بیاپسې روداتوته راغی - څه ډېره موده پس درودانونه دمومندرې پهقضا تبدیل شو اولهدغه ځای نه بیاخوګیانو ته لاړ - دخوګیانونه دوباره بیا مومندرې ته راغی ددې ماموریتونو د شپو ورځو حساب کتاب پوره پوره خلیریشت کاله و .

پهدې وخت کې نودقاضی صاحب زیره هم سپینه شوې وه اونور دماموریت سر ګردانیو ډېر ستړی کړی و .

نواستعفا ئې وکړه اوپه ډېرتکلیف ئې استعفا دوه کاله پس منظوره شوه - ګویاپه سنه ۱۳۲٤ هجری شمسی کال کې دی دقضاله درانده ماموریته خلاص شو اوپه تدریس ئې شروع وکړه .

مرحوم قاضی صاحب یومتدین اخلاقی اوغیرتی پښتون وه - دنژدې نه نهایت مهربانه سخی او خدا پرست ؤ - قاضی صاحب دونې نه متوسطه غنم رنګ ؤ خوتوروالی ته مایل - دقاضی صاحب حساسیت اوزیرکې پهاعلی پیمانه وه - او خومره چه دی دخبرې په مغز او اصلی مفهوم پوهېده داده پرو خلکودمبلغ اوادراک نهاوچته اندازه وه .

دقاضی صاحب نهپه چه کوم طالب العلم په سبق کې پوښتنه وکړه نوهغه چهدی ژورسړی ؤ ابتداء پهلنډغلی او متفکر غوندې شو - دساده زړی طالب پهدا ګمان شو چه ګوندې قاضی صاحب پند شو او دطالبانو پهاصطلاح (ودرېد) مګرهغه به داسی پخه خبره راووېسته چه یقین وکړی سندان به نه شوه ماتولی -

قاضی صاحب د کوم خاص فن یا د پخوانو ملایانو غوندې د کوم مخصوص کتاب یا کومی خاص حاشیی ملانه و ، بلکه دی په موجوده متداولو علومو کې دښه قوی لاس خاوند ؤ ، او هر کله چه دی ۲٤ کاله قاضی پاتی شوی ؤ نو ځکه د فقه یو لوی راوی ؤ او ډېر معلومات ئی پکښې لرل .

تر اوسه به شاید داسی څوك ډېر لږ پیدا شی چه هغه دې د قاضی صاحب په اخلاقو گوته کېږ دی او یا دې ترې ناراضه وی - په قاضی صاحب کې د ژبې له خوا یو قصور موجود ؤ یعنی دده ژبه نیمگړې وه او پوره مقصد ئې نه شو ادا کولی .

د پښتونستان په معامله کې چه دی څومره ټینگ ؤ او زمونږ د سپه سالار صاحب د حکومت سره ئې په دې موضوع کې څومره د همکارۍ تو صیه کوله دا د یو پښتون د پښتونوالی کامل او پوره ثبوت ؤ .

د قاضی صاحب په کور کې درې نارینه ځامن دده اخلاف پاتی شویدی او د ټولو نه مشر ئی (عبدالحمید) تر اوسه په بدخشان کې د مکلفیت سر کاتب ؤ - عبدالوکیل ستی چه د پښتو ژبی ښه لیکونکی او یو دردمند او پښتون زلمی دی د عربی دارالعلوم په ۱۲ صنف کی تحصیل کوی عبدالمجید د مرحوم قاضی صاحب دریم ځوی دی

په دې ترتیب د مرحوم مولوی او قاضی محمد هاشم صاحب د ژوند او سوانحو خاطرات تېر شوی او د دغو برکت دی چه دی به د ډېره عمره پورې د خلکو په زړونو او دماغونو کې یاد ساتی .

دا د کامې لوی او فاضل عالم ۲۵ کاله محصل - ۲٤ کاله قاضی - ٥ کاله مدرس پاتې شوی او بالاخره د ۱۳۲۰ شمسی کال د حمل په ۲ د هغې ناروغۍ په وجه چه ده ته پېښه وه وفات شو .

انا لله وانا الیه راجعون

د جنت د ښکلو حورو
توري برندې مستې ستر گی
ستا په ښکلی مخ سړې شه
ای قاضی محمد هاشمه

ربنا اغفرلنا ولاخواننا الذین سبقونا بالایمان ولا تجعل فی قلوبنا غلاً للذین آمنوا - ربنا انك رؤف رحیم .

ښاغلی محمد دین ژواك

زما سفر

(۱)

زه دیکشنبی په ورځ چه د ۱۳۳۱ کال د سنبلې لمړۍ روځ وه د سهار پر اوه بجو د جنوبی خواته دسیل دپاره وسفر ته چمتو شوم هغه ؤ چه د موټر د پیدا کیدلو دپاره ده افغانانو ته راغلم ، زما سره دجنوبی یو ملګری هم ؤ ده په پوښتنه پوښتنه کښی دورګون موټر پیدا کړ نو په موټر کښی کښیناستو دغه موټر څه خرابی درلودله موټروان د هغې خرابۍ په اصلاح کېدلو بوخت ؤ بالاخره دادموټر اصلاح وځنډېده مونږ ئی تر غرمې معطله کړو هغه ؤ چه موږ دناعلاجۍ نه دغزنی دسرویس ته راغلو او دهغه سره مو په خورا جګ قیمت فیصله وکړه چه موږ تر غزنی پورې ورسوه ده هم موافقه وکړه دلته زموږ بد چانس داوه چه دموټر هغه نا معلوم تعداد چه دموټر مالك وموټر ته تعین کړی ؤ دده دحرص له برکته نه پوره کېده خبره دې ځای ته ورسیدله چه زموږ پخوانی دورګون موټر جوړشو موږ نا علاجۍ اخستی وه بیرته مود ورګون موټر ته مراجعه وکړه بد چانس داؤ چه زموږ دموټر حرکت شاه دوشمشیره (رح) ته را رسیدل او زما دڅادر په یادیدل ؤ چه په پخوانی موټر یعنی سرویس کی رانه پاتی شوی ؤ ماوموټروان ته زارۍ وکړې چه زما څادرهېر شوی دی موټروان مراعتا موټرودراوه زماملګری دڅادر خواته روان شو موټروان موټرروان کړ دلته زما خواهش د موټر دیوې ګړۍ یاڅو د قیقو معطلیدلو دپاره ردشو زه مخ پرغزنی موټر بوتلم خو زما ملګری او څادر پرهغه ځای پاته شودلته ماته دنوی مدنیت دجامی یعنی دریشۍ اهمیت معلوم شو او دامې په زړه کی را تېره شوله چه که ما دریشی اغوستی وای اوس به نو ولی ما دملګری فراق لیده خیرزه اوس موټردغزنی په لار دورګون خواته روان کړی یم خوزړه مې دکابل وخواته دخپل ملګری وخواته ځی او دا وایم چه زه خو یو نا بلده انسان یم ما خو دخپل مقصدځای ندی لیدلی آیا دابه څنګه شی زه به خپل ملګری بیا پیدا کړم که یه ؟

سره له دې چه زه دهمدې ملګری په کورکی میلمه یم او دده کورته ځم خوهغه په کابل کی پاته شو زه موټر دورګون خواته روان کړی یم عجبه خو لا داده چه زه لاچوکی ارغندۍ ته نه یم رسیدلی چه زما ملګری خوارکی موټر په هوا اخستی دی تر مائې هیسته تېر کړنه زه قدرت لرم چه دده موټر ودروم اونه دی داقدرت لری . دواړه موټر اخستی یو زموږ په خیال موټر موږ دغزنی وخواته بیائی مګر دانده معلومه چه موټر به مونږ کمې خواته بوزی ځکه چه نه موټر زموږ په اختیار دی او نه موټروان زموږ په خوله .

هو ! موټر دی چه درېږی دمزله سړی دځمکی دسره ټولوی او په خپله غېږکی ځای ورکوی غېږ ډکه شوله پرسرهم خلق کښېنولای شی حتی برستر ګو هم، خو دومری خبره ده چه دمځکی د مخ وکړی د مځکی پر مخ نه پرېږدی د ټولو مخلوقاتو د ستړیا ذمه ده اخستی ده سره له دې چه دیوڅو فامیلو رزق هم ده په ګېډه کی تخته کړی دی خو بیا هم دی نه غواړی چه ستړی اوستومانه دې پرلاره روان وی اودی دې ترې تېرشی دموټر داافراطی شفقت دمخلوقاتو سره دې اندازی ته ورسیده چه د موټر پښی تڼاکی څه چه تڼاکی ئی وچاودې او دپښو ولوید دموټروان په اصطلاح پنچر شو سره له دی چه دا واقعه خدای (ج) په خیر تېره کړه خو دموټر حال بل ؤ او دزړه مرا ندی ئې پری شوې موټروان پخپله اصلاح بیا و ویل چه بټرۍ

وسوځېدله لیکن دا واقعه په داسې حال کې پېښه شوه
چه دیوې خوا ژړی لمر لوېږی له بلې خوا د کربلا
دښت غوندی پریوبټ بیابان پاته شوو - شپه په
همدې دښت کې په نهاره تېره شوه سهار شو خو کله
چه موټروان دخوبه کښېناست تر موږ د مخه دی
دبل موټر په تلاش کې و ځکه چه دبترۍ دنشته والی
په سبب موټر په همدغه دښت کې پاته شوی و کله
چه موږ دهمدی موټر نه نا امیده شولو نو ټولو
دموټر ملګرو په سلا دبل موټر لاره ونیوله منتظره
یو چه ګوندې بل موټر پیداشی داو چه زما د بخت
ستوری وځلید دکابل دحربی لیسی طلاب دعمومی
رخصتۍ له امله په حکومتی موټرونو کښی وخپلو
ځایونو ته لېږل کېدل څرنګه چه دهمدې طلابو سره
ضابطان وو او هغوی ته ماڅه موده درس ورکړی و
په هغه نسبت دغو ضابطانو زما د بیچارګۍ حال
ولیدنو بی له دې نه چه زه کمه اشاره ورته وکوم
دوی موټر و دراوه ما دخپل موټر د خرابۍ حال
ورته ووایه دوی فوراً زه ترلاس ونیولم او موټر ته
ئې وخېژولم داو چه ددوی دهمدی امداد او کومك
په اثر غزنی ته را ورسیدم دغزنی ترښار دباندې
دخپلواکی د جشن ترتیبات نیول شوی وو ټول
وګړی په ډېره خوښی دجشن سیل ته جمع
شوی وو، ماهم غوښتل چه زه په همدې جشن کې
دیوه ساعت دپاره شرکت وکړم لیکن دلته زما
سره دخپل ورك شوی ملګری تلاش ؤ خو شبختانه
زه دومری ډېر لالهانده نه شوم خپل ملګری مې
وموند زما ملګری وروسته ترستړی مشی وماته
وویل چه ما دورګون موټر موندلی ؤ صرف ستا
دپاره زه اوهغه موټر منتظره یو اوس که ستا خوښه
وی موږ به دخپل مطلب ځای ته حرکت وکړو ماهم
دبل موټر دنشته والی له امله موافقه وکړه دغزنی
دښار دجشن سیل رانه پاته شو کله چه دورګون
وموټر ته راغلو نو هغه موټر زموږ تر راتګ
وروسته حرکت وکړ دغزنی نه تقریباً داتو ګزو
په فاصله لېری موټر ودرید دموټر ملګرو مصلحت

داو باله چه لمونځونه وکړو دلته یو کاریز هم
وچه دورکزو دکاریز په نامه مشهور ؤ دغلته
مو لمونځ وکړ وروسته ترلمانځه بیا دموټر حرکت
شروع شو زموږ موټر بل ځای ډېره وقفه ونکړه
موږ دلمر لویدو په وخت دډندك نومې دری ته
راورسید وخو په همدې دری کې زموږ موټرڅه لار
ووهله موټروان دموټر په چلولو کې خورا ماهر ؤ
ځکه چه دالار دسړك نه وه اونه دسړك ماهرانو
دهمدې لارې دنقشی اچولو دپاره یوه ګړۍ خپلو
دماغونو ته تکلیف ورکړی ؤ یا په بل عبارت دپلو
سړك ؤ څرنګه چه دپښتنو ژوند پرطبعی حال پاته
دی په هغه ډول دې سړك هم نوی رنګ نه درلود
خیر بیاهم دهمدې سړك پورتی او کښتی زموږ
دموټر ارابه والو زوله رښتیا چه بی اجله مرګ
نشته موږ دموټر سواره یو لانشو مړه مګر بیاهم
دمرك سره مخامخ شو ځکه چه زموږ دموټر دریدل
او دآینه برقی دشفر شروع کېدل ؤ دا شفر دغره
پرخو که شروع شو په همدې وقت کې دخپل ملګری
نه مې پوښتنه وکړه چه داڅه نقل دی ده راته وویل
چه دلته غله اوداړه ماران هم شته دی دا شفر خو
لاڅه کوی زما دموټر ملګری خوپخوا لا په مسلح
ډول په موټر کې سپاره شوی ؤو خو کله چه موټر
په همدې دره کې ودرید همدا مسلح نفر نیم یوې
خواته وغرونو ته پورته شول اونیم بلې خواته،
موټروان دموټر په جوړولو شروع وکړه زه هك
اریان ولاړیم اودافکر کړم چه دیورپ نه یوه
ښځه دتبت دغرونو سیاحت ته تللی شی مګر زه دخپل
هېواد ویوه ولایت ته په خیرنشم تللی خیر بیامې
هم زړه ونه درید دغره ویوې ډلې ته ور غلم
پوښتنه مې ورځینی وکړه چه تاسې ولې وټوپکو ته
کارتوس ورکړل کیفیت څه دی ؟ هغوی زما ؤ دی
پوښتنې ته ډېر اریان تللی ؤ چه داد کومې دنیا
انسان دی څه ضرورت دپوښتنی شته دی چه داسړی
ئې له موږ نه کوی په هر صورت دهمدغو ملګرو

(پاتی په ۲۳ مخ کښی)

ښاغلی حبیب الله (صدیقی)

د کجوری غزا!

د ۱۳۰۹ شمسی کال د پسرلی په شپو ورځو کښې اپریدو د غزا دپاره ملا وتړله ددې غزا سبب داؤ چه د کانګرسو یوې ډلې د (قصه خوانی) په بازار کښې جرګه کوله انګریزانو پهدې جرګې باندې ماشینګاری وچلولې اوزیات مسلمانانې شهیدان کړل، اوبله داوه چه انګریزانو دخوتنو خانانو په ملګرتیا چه مشرتې مغل بازخان پولټیکل ایجنټ ؤ، په (سپیر کوټ) نومې ځای باندې جرګه کړې وه چه د پیښورنه د (ورکزو) پهعلاقه کورمې ته سرک تېر کړې.

ددې جرګې څخه یووطن دوست سړی چه (مسلم) نومیده ددې فیصلې یونقل پهپته سیدانور خان پاچاته ولېږه چه خانانو داسې جوړه وکړه که داسرک پهدښتیا تېر کړی نوتېرا تر کورمې پوری خرابېږی!

کوم وخت چه داکاغذ نوموړی پاچاته ورسید نوسمدستی دباغ دمسجد پهمنبر وخوت اوخلکوتهئې وویل چهخبره خوداسې جوړه شوې ده!

خلکو په نوموړی پاچا باندې دعا وکړه چهزمونږ مشر ئې دمخه شه بیرغونه ئی پورته کړل اومخ په پیښور روان شول په (توده چینه) باندې ئې چه د کجوری سره نژدی دی ځایونه ونیول.

کوم اپریدی چه دپیښور په ښار کښې اوسیدل هغوی غازیانوته ځواب وکړ چهدومره صبر وکړی، چهمونږ خپلې کډې دښارنه وباسو وروسته له هغه په انګریزانو سره ګورو. پهدې ځای کښې پوره

(د ۲۲ مخ پاته)

دغرهختل اودتوپکو برېښول اودهغه بل غره دآینه برقی شفر وریدل ؤ عجبه خولا بله وه کم وقت چه داشفری ځلاور کهشوله دغرو دمنځه یو مسلح انسان پیداشو کرار کرار زموږ خواته راغی زموږ موټر ئې هم ولید او دغره دسرو کزمې ته ئی وکتل زموږته نژدی شوم پوښتنه مې ورځنی وکړه چه وروره کمې خواته ځی ده په جواب کی راته وویل چهزه مسافریم ځمه کمې خواته بالاخره دموټراصلاح وشوه موږ بیرته په موټر کی کښېنستلو تقریبا دماښام لس بجې وی چه دموټرنه کښته شوو په پیاده لارو هلومو شروع وکړه یوه ګړی وروسته دسرحوضې کلی ته چه زما دورتګ ځای ؤ ور ورسیدلو دسرحوضې کلی دپښتنو دیوې لوئی قبیلې دسکونت ځای دی ددې کلی نفوس ویوزر نفروته رسیږی داوګړی ټوله تجارت پېښهدی دوی دکښت ځمکی خورا لږی لری ددې ځمکو آب خوره دکم سیندنه نده صرف دګارو دبیخ څخه په سوو ځایو نو کی خورالږی لږې اوبهرا بهیږی او وهرې چینې ته یوڅو پټی جوړ شوی وی هغه کری، داوګړی دهند ترویش دمخه خوراشتهمن وو، خو کله چه هندو ویشل شو د دوی تجارتی معاملاتوته خورا بنده پېښه شوی ده چهدهمدې بندې ملت دپښتونستان دپښتنو دحق غوښتل او دافغانستان دپښتنو اخلاقی مرسته وه ځکه نو دوی پاکستانی واکولان په ښه سترګه نه ګوری اوددوی دښه ژوند کولو اوتجارتی کارونو مخه ئې نیولی ده خوبیاهم د پاکستان ملت خپل هغه پخوانی علایق ساتې اودوی هر کله دپاکستانی پولیسو ځینی ساتې په سرحوضه کې یوابتدائی مکتب هم شته خو څرنګه چه داوګړی د معارف اوتعلیم له خونده ناخبره دی نو دوی هیڅ کله نه غواړی چه پخپلو زامنو او اولادونو دې عالی تحصیلات وکړی.

(پاتې لری)

یوه میاشت تېره شوه غازیانو بهدشپې له مخې دپرنګی پرچوڼۍ ډزې کولې اودټیلفون مزی بهئې شکول . چه میاشت تېره شوه کډې پهځای شوې اوهغوی هم راغلل دپېښور ښارئې تقسیم کړ نیم یوې خواته شول اونیم بلې خواته ، دوهشپې اودوه ورځې سخته جګړه وشوه او زیات مال او اسباب دټوپکو سره د غازیانو لاس ته ور غلل نوپښتانه غازیان ددې دپاره چه ځانونه ښه تقویه کړی اودولجې مالونه کوروته ورسوی تیراته راغلل ددې غزا پښتنی مشران سیدا نور خان پاچا ، سید کبیر پاچا ، سیدا کبر پاچا ، ملا عبدالقدوس آکاخیل ، محمد آخندزاده خواجه فقیر آخندزاده ، سامان خان کوکی خیل ، قاضی ګل حسین خان اوملا دین احمد خان قمبرخیل اونور نور ؤو .

څوورځې وروسته ئې بیادلښکر بندوبست جوړ کړ چه غیر له نوموړی سپین ږیرو څخه مستری همیشه ګل خان ، خوشحال خان ، ضراب الدین خان زخه خیل ، چمن خان زخه خیل ، علی بازخان ، زرباز خان ، ګل میر خان ، ملا عبدالرحمن خان ، خان باز اوغازی خان اونور نور ؤو روان شول انګریزان چه خبر شول نووئې ویل چه په رڼا ورځ راتلی نشی !

غازیانو ځواب ورته وکړ چه ښه ځان تیار کړه ددولمې دمیاشتې پهدولسمه ورځ دجمعې پهشپه درځو اوغزا درسره کؤو . پهدې وخت کښې د (بړوان) نومې ځای سره د غازیانو مخی ته یو-یو ګروپ آلوتکې پهوار وار راتلې اوبمونه ئې غورځول اوغازیانو لهخپلو ارادو څخه لاس نهویسته . اوپه کومه شپه چه وعده ئې کړې وه د پېښور پهښار ورداخل شول اود (وزیر) پهباغ باندې دېره شول اوډزې شروع شوې دانګریز منصبدارانو بله چاره ونهمیندله څه په بالاحصار اوڅه نور په بندیخانو کښې پټ شول . وائی چه د پېښور پولټیکل ایجنټ پهبندی خانې کښې (لعل میرخان) صبهدارته ژړل چهما سیدانور خان او سید کبیرخان وژنی لعل میرخان ورته وویل چه مهوارخطا کېږه هغوی زمونږ قام او آشنایان دی ترې خلاص بهدې کړم .

اورګاډی په (نوښار) باندې بندپاتې شو ، دانګریزانو سواره فوځونه بهچه ښارته راغلل غازیانو بهپرې حملی کولې اوویشتل بهئی ، وسلې بهئې ترې واخستلې درستهشپه اوورځ بهپرنګیانو پسی چه پټ شوی وو ګرځیدل په (۷) ورځ غازیانو ددښمن عمومی ګدام چور او اورئې ور واچاوه .

پهدې (۷) ورځو کښې یوه ورځ میدانی جنګ وشو چهپهدې جنګ کښې پرنګیانو ته زیات مالی اوجانی تلفات ورسیدل او دپښتنو څخه هم څوکسه شهیدان شول . د پېښور خلك څرنګه چهدانګریزانو نه پهتنګ شوی ؤو دغازیانوسره ئې زیاته مرسته کوله .

یوه هفته چهپوره شوه انګریزان لهجنګې فشلو څخه دباندې نه راوتل اودپښتنو سره توپونه موجود نهؤو چهچوڼۍ ئې ورانې کړې وای نوبېرته دخپلو شهیدانو وسلو او نور دولجې دمالونو سره چه دانګریزانو لهعمومی ګدام څخه ئې لاس ته راوړی وو روان شول - داغزا دکجورۍ پهغزا باندې مشهوره ده .



اتلنتیکو

یدې پورته کلیشه کښې هغه آس ښودل کېږی چه موسولینی به ورباندې سپریده اودفاشیستیانو یه ډېرو لویو ټولنو کښې به ئې ویناګانی کولې اودده له شاخخه به دلکونو خلکو غوږونه دموسولینی آوازرسیده دده دمرګ نه وروسته دغه تاریخی آس چه اتلنتیکو نومیده دسینما یوې مؤسسی واخیست اویه ګاډی باندی ئی وتاړه اویه کوڅو اوبازارونو کښې به ئې دده یه ذریعه خلکو ته د سینمافلمونه اواعلانونه ښودل، وروسته دغه آس دګاډیو یوشرکت واخیست او سیاحانو یه ددې تاریخی آس یه ذریعه درومادتاریخی ځایوسیلونه اونندارې کولې .

پس له هغه دغه تاریخی آس «اتلنتیکو» چه عمر ئې شلو کلونو ته رسیدلی دی نوروخلکو واخیست او یه کراچی باندې ئې وتاړه اونن پری دلارو، کوڅوخخلی چاول کېږی .

ښاعلي عبدالرؤف « تتر »

دژوندانه تحول

دژوندانه تحول یو آسانه اوسطحی کار ندی چه هرسړی وغواړی اودخپلو امیالو سره برابر خپل ژوند اوګذران ته له یوه حال نه وبل حال ته تغیر ورکړی بلکه دغه تحول اوتلون دهرسړی ترفعالیت اولیاقت اوجدیت پورې اړه اوتعلق لری که څه هم هرانسان فطرتاً متحول خلق شوی دی یعنی دکوچنی توب عادات اواطوار اوخواهشات ئې په ځوانۍ کښې تغیر پیدا کوی او دځوانۍ هیلې اوجسمانی تمایلات ئې په سپین ږیری توب کښې بل حال ته وګرځی دژوندانه تحول خپل ځان ته یوطبیعی اوفطری حالت نلری چه طبیعتاً دجسمانی امیالو په څېر له یوه حال نه وبل حال ته تغیر پیدا کړی دمثال په ډول یو کوچنی بهوی چه خوراله یوې ټیټې طبقې څخه بهوی اودده مور اوپلار اوورونه به په ډېر فلاکت او زحمت سره ژوند او ګذران لری د ژوندانه حال او ګذران به ئې ډېر ټیټ اوذلیل وی مګر هر کله چه ده ته خاوند تعالی پوهنه او کمال اولیاقت ورکړی اودژوندانه په ډګر کښې ټولې ټیټې او هسکې ورته څرګندې شی اوبیا دخپل ټینګ عزم او کلکې ارادې په توګه په ټولو مشکلاتو کښې بریالی او ګړندی شی نو په دغه وخت کښې دده د ژوندانه هغه پخوانی طرز اوطریقه له خپل پخوانی حال نه بل حال ته تغیر پیداکړی عرف اوعادات طرز او طریقه اود ژوندانه نورشیان ئې خورالوړې درجې ته ورسیږی چه دغه مادی تغیرات ئې طبعاً کرار کرار لوړې درجې ته ورسیږی :

زما مطلب په دغو څوپورتنیو کرښو کښې دادی چه دې ته دژوندانه تحول نه ویل کیږی چه یوسړی له خپل تلتک نه پښې دباندې وغځوی اوخپل شته اومنقول اوغیرمنقول سامانونه اوجایدادونه په قطعی اویادګروی په توګه بیعې ته واچوی اوبیا په همدې پیسو خپل ژوند اوګذران ته له یوه حال نه وبل حال ته تغیر ورکړی یعنی پخوانې که چېرې راډیو نه درلوده په همدې پیسو راډیو واخلی موټر واخلی ښه فرشونه اوښه لباسونه او نور د لوکس سامان پرې برابر کړی اود سیالۍ ددوداودستور پرځای کولو له کبله بې ځایه اوله اندازې وتلی مصرفونه غوره کړی اوبیا داراز کسان اظهار وکړی چه ماخپل ژوندانه ته تحول ورکړ او خپل ژوند اوګذران مې له یوه حال نه وبل حال ته واړاوه ، په ! دې راز کار ته تنزل اوحماقت اوبدبختی وایی دا تحول ندی دا کار د ژوندانه له امله تباهی اوبربادی ده داراز کارونه له اقتصاد او اجتماعیاتو اواخلاقیاتو څخه وتلی کارونه دی دې راز کارونه تبذیر اوله خپلې وسې نه د باندې وتلی کارونه وائی نوهغه کسان خپل ژوندانه ته تحول او تبدل ورکولی شی چه ددوی دفعالیت اوجدیت میدان ورځ په ورځ له یوه حال نه وبل حال ته وسعت اوپراختیار مومی اودده عادات اواطوار او اخلاق ورووړو تدریجاً د کمال درجې ته رسیږی نوطبیعی خبره ده چه ددوی ژوند او ګذران هم چه دهر انسان دعزم اوارادې له توابعو څخه شمېرل کیږی طبعاً اوعادتاً تحول پیدا کوی اودهر سړی دښه کمال اولیاقت په اندازې دهغه ژوند او ګذران هم لوړې اوعالی درجې ته عروج کوی .

ښاغلی م - س - میړنی

پښتنو پښتو و پالی!

ددې پاسنی عنوان لاندې دانیس د ملی ورځ پاڼی د (۲۰۳) ګڼی په دوهم مخ کښې دښاغلی غیبی خپل له خوا یوه مقاله خپره شوی ده - دې ښاغلی «و روسته له دې نه چه د پښتو دژبی څه ناڅه ستاینه ئې کړی ده» داسی لیکلی دی «ځما مطلب دادی چه د پښتو د ګرانو لیکوالو توجه اوپام لرنه د پښتو مقالو دلیکلو په باره کښې راجلبه کړم» نو دغه دی ددوی مقالی زما توجه هم هغی خواته واړوله کومه چه د وی غوښته اما زما مطلب دا دی چه دی په دې خپل فکر کښې یا تیروتی دی او یائی سره له پوهی د تیروتنی لار نیولی ده ځکه دی ددې لپاره چه په انیس کښې د پښتو مضمونو نه لږ او کم لیدل کېږی دا علت ښکاروی چه څوک ورته پښتو مضمونونه نه رالېږی او ضمناً د پښتو په لیکلوالو او پوهانو باندې تنقید هم کوی چه دوی د خپلی ژبی لپاره پوره اووړ خدمت نه کوی او دا دعوه هم کوی چه دانیس ملی پاڼی تراوسه پورې خپله موازنه ساتلی ده» نو زه ورځنی هیله کوم چه لطفاً زما دیو څو خبرو ځواب ووائی.

۱ - پښتنی لیکوال چه پښتو مضمونو نه دانیس دائری ته نه لېږی علت ئې څه دی؟ که دائې سبب وی چه د پښتو لپاره ئې خدمت زړه نه غواړی نو نورو جرائدو او مجلوته ئې ولی لېږی؟

۲ - د نوموړی مقالی په اوله برخه کښې ئې د پښتو پرمخ تګ ستائلی او د پښتنو لیکوالو او پوهانو کوښښ ئې ښکاره کړی دی او په وروستنی برخه کښې ئې د پښتو په لیکوالو او پوهانو باندې تنقید کړی دی نو ددې متناقضو ویناوو وجه څه ده؟

۳ - دی چه دا دعوی کوی چه دانیس ملی ورځ پاڼی خپله موازنه ساتلی ده او څوک د شکایت حق ورځنی نه لری نو د موازنی د ساتلو معنی څه ده؟ که دائی معنی وی چه پښتو او فارسی په دې پاڼی کښې یو برابر دی او سمه نیمه پښتو او سمه نیمه فارسی ده نو ښائی چه دی همدغه پاسنی ګڼه وګوری چه بی دده له مضمونه بل کوم شی په کښې په پښتو شته؟ او که دائې معنی وی چه پښتو دومره درنه ده چه دیو مخ څلورمه برخه ئې د نورو ټولو په اندازه خیژی او د نورو سره برابر یدلی شی نو هغه خلک چه شکایت کوی هغوی دغه موازنه نه غواړی بلکه هغوی غواړی چه دوه مخه دې پښتو وی او دوه مخه دې فارسی وی دده تنقیدنو بیا څه معنی نه لری.

٤ - انیس چه یوه ملی پاڼه یادېږی ښائی په ملی ژبه سر ترسره ښائسته وی. په پای کښې داویلی شم چه څوک د پښتو مضمونونه نه درلېږی نو خبرونه خو په پښتو کولی شی؛ او خپله سرمقاله خو په پښتو ولیکی.

دپاغلی سیفی ترجمه

سوال او ځواب

س ـ دانسانی ژوندد برجګ تخیل کوم تخیل دی ؟

ج ـ نیکی او انسانیت پالنه او روزنه .

س ـ دانسانیت اساس او بنسټ څه شی دی ؟

ج ـ انسانیت روزونکی اخلاق او کارونه .

س ـ هغه کوم اصول دی چه که په هغو خلك عمل وکړی نو نړی به دامنیت او خوشحالی او هوسا بی مرکز او زانګو شی ؟

ج ـ په خلکو کښی دیو بل سره دانسانی رابطی ټینګیدل .

س ـ دنړی دسعادت د پاره نیشنل ازم دبر ښه دی او که کمونیزم ؟

ج ـ دنړی د رفاه او سعادت د پاره انسانیت ازم څخه بل ښه ازم نشته دی .

س ـ دانسانیت معیار په کوم وخت کښی ټیټ او کښته کیږی ؟

ج ـ په هغه وخت کښی چه انسان دانسانیت دلوړ مقام څخه را کښته شی او کله دلحان څخه حیوان او کله دلحان څخه شیطان جوړ کړی .

س ـ انسان په کوم وخت کښی دمسئولیت څخه خلاصیږی ؟

ج ـ په هغه وخت کښی چه دمرګ په غیږ کښی په درانده خوب بیده شی .

س ـ دژوندانه دټولو خوشحالیو اساس کوم کوم شیان دی ؟

ج ـ شرافت او دیانتداری .

س ـ دنارینه لویه کمزوری او دښځو لویه کمزوری کوم شی دی ؟

ج ـ د نارینه لویه کمزوری ښځه ده او دښځی لویه کمزوری خود فریبی او خود نمائی او ځان ښودل دی

س ـ نارینه ښځه واده کوی که ښځه نارینه واده کوی ؟

ج ـ دواده یو بل واده کوی او ځینی خلك دا نظر په لری چه ځینی خلك ښځه ځانته واده کوی او ځینی خلك خپل ځا نونه ښځونه واده کوی .

س ـ محبت دانسانیت سره څه رابطه لری ؟

ج ـ ددی موجوده وخت مینی خو په عمومی ډول نفسانی دی او که تاچیر ته سوچه مینه پیدا کړه نو مونږ به درته د دغی رازمینی او دانسانیت سره رابطه ښکاره کړو .

س ـ دنړۍ په ژبو کښې ډېره خوږه ژبه کومه ژبه ده ؟

ج ـ مورنۍ ژبه .

س ـ ادب دادب دپاره ښه دی که ادب دژوندون دپاره ؟

ج ـ په دی وخت کښې ادب دژوندون او ادب دانسانیت د پاره دواړه ښه دی.

س ـ بد معاش کوم ډول انسان ته ویل کېږی ؟

ج ـ هغه انسان ته چه دانسانیت وژونکو ذرایعو په واسطه خپل ژوند ترسره کوی .

س ـ نن ولی بو انسان دبل انسان څخه کر که او نفرت کوی ؟

ج ـ ځکه چه انسان دانسانیت څخه ډېر لری شوی دی .

س ـ دانسان د ژوندانه دوه مخصوص ارخونه کوم کوم دی ؟

ج ـ امارت او عزلت .

س ـ انسان په نړۍ کښې په کوم وخت کښې مطمئن او هوسا کېدلی شی ؟

ج ـ په هغه وخت کښې چه د انسان ضمیر مطمئن شی .

س ـ که دیوې ښځې په زړه کښې دا خیال پیدا شی چه دا ډېره ښکلی ده نو په دې وخت کښې ددې په زړه کښې کوم کوم فکرونه پیدا کېږی ؟

ج ـ ددې په زړه کښې دافکر پیدا کېږی چه باید زه دنړۍ مالکه شم .

س ـ یوه شریفه ښځه څه هیله لری ؟

ج ـ داهیله لری چه زما دژوند ملګری دې یوروغ اوشته من اوشریف انسان وی .

س ـ په دې موجوده عصر کښې ښځې په سیاست کښې برخه واخلی او که یه ؟

ج ـ که ښځې دخپلو کورونو ورسپارلی شوې چارې په صحیح ډول ترسره کړی نو په دغه صورت باید په سیاست کښې هم برخه واخلی .

س ـ دانسان ډېره لویه هیله کومه هیله ده ؟

ج ـ کاش چه دانسان لویه هیله انسانیت وای .

س . مذهب او انسان دیو بل سره څه تعلق لری ؟

ج ـ انسان جسم دی او مذهب روح .

س ـ دباران دوریدلو نه وړاندې وریځې راتولېږی نودژړا په وخت کښې څه کېږی ؟

ج ـ دباران دوریدلو نه وړاندی وریځې راتولېږی او دستر ګو دوریدلو او ژړانه وړاندی به زړه باندې جذبات او ځینی احساسات راتولېږی .

س ـ مونږ اور ېدلی دی چه دخدای درحمت نه ناامیده کېدل کفر دی نو داخلك ولی ځانونه وژنی ؟

ج ـ څوك چه ځانو نه وژنی او انتحار کوی هغوی په حقیقت کښې ډېر بی زړه اودخدای درحمت نه منکروی .

س ـ په ځینو هیوادو کښی ښځو ته خلك په ډېر سپك نظر ګوری داولی ؟

ج ـ دا ځکه چه په هغو بدبینۍ او تنګ نظرۍ غلبه کړی ده .

س ـ په انسانیت او حیوانیت کښی څومره فرق دی ؟

ج ـ دومره چه په پاکو او پلیتو او بو کښی وی .

س ـ انسان په کوم وخت کښی مری؟

ج ـ په هغه وخت کښی چه دانسانانو اعمال دصحیح انسان د صحیح انسانیت سطحی څخه ټیټ او را کښته شی .

س ـ حسن په کوم وخت کښی مهربانه کېږی ؟

ج ـ په هغه وخت کښی چه عشق بی نیازه شی .

س ـ په علم اودولت او حسن دریواړو کښی کوم یومهم دی ؟

ج ـ علم .

س ـ په نړۍ کښی غرور له کوم وخت څخه پیدا شوی دی ؟

ج ـ د کوم وخت نه چه انسان دخود فریبۍ په مرض اخته شوی دی .

س ـ په نړۍ کښی ډېر زیات مغرور څوك دی ؟

ج ـ شیطان .

س ـ په انسانی ټولنه کښی غټه اولویه ګناه کوم شی دی ؟

ج ـ دانسانیت وژل او دانسانیت سره دښمنی .

س ـ دپاك خدای نه خلك کوم شی نه غواړی ؟

ج ـ بدقسمتی ، بددیانتی ، بد بختی او بد کرداری .

س ـ راحت جان د کوم شی نوم دی دښځی او که د کوم بل شی ؟

ج ـ داشی دهرچا ذوق سره تعلق لری ځینی خلك ښځه دخوشحالیو سرګڼی او څوك مور اوپلار او څوك لوڼه او زامن اوڅوك منصب او رتبه

س ـ په نړۍ کښې ډېر تریخ کوم شی دی؟

ج ـ سپینی او رښتیا اوپاکې خبرې .

س ـ په نړۍ کښې ډېرښه او نیکمرغه او خوشحاله ژوند کوم خلك کولی شی ؟

ج ـ څوك چه دجګړې حوصلې او ټینګې ارادې خاوند او په روڼ تندی دمشکلاتو سره مقابله کوی .

س ـ په مینه او همدردۍ کښې څومره فرق دی ؟

ج ـ په مینه او همدردۍ کښې دځمکې او آسمان فرق دی مینه دانسان دهغې عملې جذبې نوم دی چه کله کله دغه جذبه دانسان دتباهۍ او هلاکت موجب ګرځی او همدردی دانسانیت دیوې معمولی جذبې او خاصیت نوم دی .

س ـ مینه دکوم شی نوم دی ؟ او څه اهمیت لری ؟

ج ـ بوشی سره په زړه کښې در غبت پیدا کېدلو نوم مینه ده او که دغه رغبت دصداقت او ټینګ عزم په اساس وی او دکومې استفادې په اساس نه وی نو ډېر جګ او مهم شی دی .

س ـ انسان دکوم شی نوم دی ؟

ج ـ انسان دیو اشرف المخلوقات موجود نوم دی .

(له بیسوین صدی څخه)

ښاغلی غلام محیی الدین ایوبی
دادبیاتو دفاکولتی محصل

ای شکلی شهی ....؟

راشه ...! چه یوه کړی دزړه خواله وکړو !! ـ گوندی ... زه خپل ټول غمونه هېر کړم اوستا دښکلی مخ په ننداره کښی لاهوشم ...

نن خولږ څه ډاباندې مهربانه شه ... او خپل نازنین لاس په لاس کښی را کړه ... ژر شه ..!...

چه یوداسی ځای ته ولاړه شو ـ چه هلته بې له ما او تا بل هیڅوك نه وی ... او یوه شپه سره وږغېږو ستاپستی خبری ... دمینی خندا او خوږې مرکی له مانه هرڅه ورکوی ازه پدغه حال کښی ټول جهان هېروم ..'..

داژوند مې بې تا پرسره اور کړوی ... نو بله چاره نلرم .. بې له دی چه ... ستا پرلوری قلندر ... شم ... ته کولای شې چه زما زخمی او خوږمن زړه ته دوا را کړی . ای دزړونو لوټونکی محبوبی ...!!!

زړونه مه ماتوه لعل دبدخشان دی بیا مشکل دی رغول دشکسته وو
زړه می ستاپه محبت سره تړلی نظر وکړه په دا خپلو دل بسته وو

ته پښتنه پېغله ئې .... زه ستاپه وفاء عفت او حیا او پخپله پاکه مینه قسم یادوم چه ماته ترهر څه ته ... راتېره او نژدی ئې ...' نو « ته » هم راشه چه پخپله غېږ کښی ځای در کړم .!

ماډېر خلك لیدلی دی چه خپلی میرمنی نه خوښوی ـ بلکه دختن ترکې ستائې ... ځینی د کشمیر پېغلی غواړی او ځینی نور .... تور ....

خوزه ستاپه تش دیدار .. داسی مست او خوښ یم چه د « شرابو » نشه او مستی ور ته هیڅ ده ..

خو کاشکی دزړه کیفیت چالید لای ....!!!

دهغه وخت راهیسی چه زه په ښه او بد پوهېدلی یم . ستا دجمال ننداري هرڅه راڅخه هېر کړی دی ...

ستا .... دښه حسن، کمال او اخلاقو ستاینه خو به ما کړی وای ... - لیکن زما قلم دهغه داظهاره څخه عاجز دی ....!

داژوند تېر ېږی ... خوځینی خوښ او خندانه تری نه ولاړ شی ... او ځینی په غم او ماتم کښی مړه شی ...! څوك ډېر مالونه، او لادونه، پیسی او املاك پر ېږدی او پخپله تش څو گزه کفن له ځانه سره لحدته یوسی او څوك پخپلو کالو کښی ښخ شی .. بی مظلومیت خواری او پریشانی بل هیڅ شی تری نه پاته نشی ... خوزه هم په دا خپل مظلوم او بینوا حال باندې خوښ او راضی یم ... له مانه به بې څو او ښکو، دردنا کو آهونو، ستاپا کې مینی دفراق سندرو، دوصال وعدو او دژوندانه له ترخو خاطراتو نه بل هیڅ شی پاته نه شی ...!

اگر چه ... دزمانی دفتر ډېر داسی ترخه خاطرات له ځانه سره ساتلی دی ... خوزما دپریشانه او ناکامه ژوندانه بی مزی او ترخه خاطرات به هم په دې دفتر کښی ډېر ژر ثبت شی .. او دهغه اهمیت به ورزیات کاندی ....

«نوای ښکلی شهی» ژر راشه .... اوزما داعاجزانه خواهش ومنه او یوه گړی را سره کښېنه. . گوندی زه به دادخوب اوخیال دنیاستادراتگ په انتظار ستا دښکلا او نازو ادا په ننداره اوستا دښکلی مخ ددیدار په اسره او امید سرته ورسوم :..

پښتنولی

«صاحب ! هوماوژلی دی »

امیر صاحب : « ولی ! ستا ... »

بندی : « که اجازه وی زه په حقیقت بیان کړم . نور امیر صاحب اختیار لری »

امیر صاحب : « په ډېر قهر سره » : «بنه وایه !!! »

بندی : « صاحب ! ما حاکم دامیر صاحب دمخالفت دپاره نه دی وژلی . مونږ د حاکم صاحب ډېر قدر او عزت کولو . اوددہ هرقسم خدمت او متابعت ته تیار وو . ولی دده چرگان ډېر خوښ وو دمونږ نه به ئې چرگان په زور غوښته که مونږ هرڅو مره ده ته وویل او جرگه مووربانديې وکړه چه مونږ تیار یو چه تاته پسو نه حلال کړو . وریتی درته وکړو ، میلمستیا درکړو او نور خدمت دې وکړو . چرگان څه کوی ؛ چرگان دگېدړو خوراك دی . زمونږ پادشاه زمری دی اومونږ پښتانه پړا نگان یو ، ددې نه لاس واخله ! مگرده نه منله ، نودی گېدړوو ، گېدړ او زمری او پړا نگان سره نه چاپېزی ، نو مووو ژلو ، نور امیر صاحب اختیار لری ! »

هرڅومره چه بندی داتقریر آخر ته رسولو ، دامیر صاحب په تربواو گونجې گونجې تندی کښې پر اختیا پیدا کېده ، دتقریر په خلاصېدو سره ئې وخندل ، او بندیان ئې اپله کړه او خاص دغه سړی ته ئې دده دپښتنولی په احساساتو اوربښتیا و ینا بخشش هم ور کړو او کورته ئې رخصت کړل . خوشامند گر خلق چه دجامعی مضر مېکروب بلل کېږی ددوی عادت وی چه مخامخ سړی ته رنگارنگ غوره مالی وکړی ، رقم رقم لقبو نه او صفات پیدا کړی اوخپل ممدوح وربانديې وستائی . داتول ددې دپاره چه د دغه مخاطب په روح کښې له دغې خواڅخه تاثیر وکړی اوخپل څه شخصی غرض ورورانديې کړی.

ولی پښتانه دغه دخوشامند عادت هیڅ نه خوښوی ، دوی ته په حقیقت او صاف ویلو کښې که بنه پېښه شی او که بده د حقیقت نه نه تېرېږی ، خوشامند کول په پښتنولی کښې ډېر لوی عیب دی . ددې خبرې داثبات له پاره همدا کافی ده چه مونږ د پښتوژبه چاپ کړو ، نو په توله ژبه کښې په هیڅ دخوشامندو القاب اولغات مینده نه کړو !

دوی خپلو آشنایانو اودوستانو ته دهغوی په نومو خطاب کوی ، په پښتو کښې دورور او ملگری لفظ ډېر خوږ اومعنی داره دی . کله کله د دغو کلمو سره د گران

لفظ ، هغه هم په لیك کښې یوځای کېږی ، کشرانو ته د(روکی) (لالی) او (کوکی)
لفظ مستعملوی په پښتنو کښې داهیڅ عیب نه دی چه څوك په خپل ساده نامه سره یادشی
په دې خوی کښې پښتانه دومره بی تکلفه دی چه ځینی قبایل لکه شینواری او داسی
نور ، کشران ، مشرانو ، اوزامن پلرونو ته مخامخ نوم اخلی اوهیڅ بد نه منل کېږی
کشران هم د ا په سپك نظر سره نه کوی ، دعزت په ځای کښې چه د پښتنو کشران
د خپلو مشرانو څومره متابعت اوفرمان برداری کوی.

دابحث به دبل کوم عنوان لاندې بیان کړم په اویو اویو جرگو کښې دخپلو خانانو
او ملکانو سره ددوی په نومونو مخاطبه کوی داد پر کم ویل کېږی چه (خانه) یا (ملکه)
د خپلو مشاهیر و اولویانو دنامه دیادولو سره د (بابا) لفظ احتراماً یو ځای کوی ،
لکه احمدشاه بابا ، رحمن بابا او داسی نور .

پادشاه ته ئی ددینهٔ مخ کښې امیرصاحب ویلو ، اوس خپل قومی بادشاه ته اعلیحضرت
خطاب کوی ، ددې نه علاوه کوم څه چه د مساوات دعنوان لاندی داخلیږی هغه هم
د آزادی او حیرت سره پوره د خل لری .

مساوات

پښتانه څه رنگ چه په خبرو کښې القاب او تحدیدات نه لری . دغه رنگ په
خپلو معاملو اواطوارو کښې هم دتکلیفی امتیازاتو طرفدار نه دی یوازې دانه چه پښتانه
داشیان کوی نه! بلکه پښتانه ئی غواړی هم نه !

حضرت سیدجمال الدین افغانی دتتمة البیان په ۱۷٤ مخ کښې داسی لیکی « دپښتنو امیر
دمشرق دنورو پادشاهانو غوندې دبدبه نه لری . بلکه په حکومتی در بار کښې دخپل
حکومت له ارکانو سره یوځای کښینی اوله نورو ارکانو سره ډېر لږ تفاوت لری
دروازه ساتونکی (پېره دار) څوك نه منع کوی ، هرسړی کولی شی چه خپل عرض
دبادشاه حضور ته ورسوی او مخامخ ورسره په جگ آواز بې پروا خبری وکړی ،
دارنگ نور دولایاتو حاکمان هم دی. هو! دبادشاه په مخکښې ډېر مسلح عسکر و لاړوی
چه دامر داجراء دپاره تیار اوسی !

مولوی عبدالمجید افغانی دتاریخ افاغنه په ۱۹۵ مخکښې داسې لیکی « پښتانه امیران
امتیاز نه خوښوی بلکه دخپل لاس لاندې خلقو سره عزیزانه سلوك کوی اودادنی ادنی

خلقو سره هم مړی خوری او په معمولی فرشونو ورسره کښینی دنورو امراؤ غو ندې آرایش نه خوښوی ، مګر ددې بې تکلفی په وجه ددوی په اقتدار کښی څه فرق نه راځی ».

میلمستیا

دمیلمه پالـلو عادت په پښتنو کښې ډېر پخوانی او ډېر راسخ دی : میلمه پالـل هر پښتون دخپل ژوندانه ضروری برخه ګڼی ، پښتانه تردې حده میلمه پالـلو ته اهمیت ورکوی چه په کوم ځای او کوم حال کښی میلمه نه شی پالـلی هغه اډو نه خوښوی ! که سړی په پښتو ژبه کښی لږ عمیق شی نو ورمعاومه به شی چه دمیلمه داستقبال او ملاقات دپاره څومره محاورې لری . نودا دپښتنو دمیلمه پاللو په خصلت باندې ښکاره ثبوت دی ؛ دقندهار پښتانه وائی « ښه راغلی ! خدای دې راوله ! » چه په ځواب کښی ویل کیږی « ښه اوسی ! خدای دې لره » دجنوبی او مشرقی پښتانه وائی (ستړی مشی ! په خیر راغلی !) په ځواب کښی ویل کیږی (مه خوار یږی سلامت اوسی ، خدای دوښه !!) دپېښور پښتانه وائی (په خیر راغلی اوهر کـله راشې !... هر کـله ! هر کـله !) پـه ځواب کښی ویل کیږی « په خیر اوسې » مهمند او دباجوړ پښتانه وائی (ښه چاری !) په ځواب کښې ویل کیږی چه : (چار دې ښه شه !!!)

دې فعل او کـارته ځینی پښتانه (روغبړ) ځینی ورته (ستړی مه شـی) ځینې ورته (هر کـلی او داسې نور ... وائی ددې فعل رسوخ په پښتون قام او خصوصاً دسرحد په پښتنو کښی ځان ته او مخصوص اصول پیدا کړی دی ، پښتانه اکثره په کـلیو کښی اوسیږی ښاری استو ګـنه اکثره دوی نه خوښوی ، هر کـلی ضرور دننه یادباندې مسجدلری او دمسجد په خوا کښی حجره وی . داهله چه کـلی وړو کی وی او که لوی وی ، نو ډېر مسجدونه او ډېرې حجرې لری ، په هره حجره کښی شل دېرش کـټونه پراته وی او په حرکت کښی دخوب کـالی چه عموماً لاند ستون بړ ستن او بالښت وی ایښی وی دحجرې په منځ کښی لوی نغری وی چه اوریه کښی بلوی ، دنغرې نه چاپېره په ټوله حجره کښی بولوی پوړ (پوزی) غوړیدلی وی چه کـله کـله وربانـدی لیمځی ا چوی نو دکـلی خلق دخپلو میلمنو سره هرسپا ماښام په دې حجره کښی کښینی او یـو ځای

ډو ډۍ خوري . دمېلمه پاللو او ډوډۍ ور کولو دپاره پښتانه زښت ډېر ښه دستورلري دپښتنو مېلمه دانه دي چه ضرور ددوی اشنا او پېژندونکی دې وی نه ! هرڅوك اوهر مسافر او لاروی چه کلی ته راشی هغه ددوی مېلمه وی او پردوی ئې قدر لازم دی کلی وال او کور بانه ډومبی مېلمه ته پاڅېږی ستړی مشی ورته وائی (۱) لاس ور کوی ،

که څه ټوپك سامان پابند په شالری ترې آخلی ئی په خپل ځای کښې ئې زدی چه مېلمه کښینی نو بیا ورسره مجلس کوی او پوښتنه ترې کوی چه څوك ئی ،، ؟ څنګه راغلی ئې ؟ او داسې نور .چه دنمانځه وخت شی هر سړی یوه کوزه یازیاتې تودی اوبه راوړی چه مېلمانه پری اودسونه و کړی دماښام دنمانځه نه وروسته دستی ټول کور بانه کوروته ځی هرڅه چه پاخه وی مړۍ او نګولی هریو بېل بېل را واخلی حجرې ته ئې راوړی چه داټول دسترخانونه ، شکرونه او لوښی په حجره کښی جمع شی نو مېلمانه کښینی مړۍ خوری او کور بانه داوبو ور کولو خدمت کوی چه دوی ماړه شی نو اوبه ور واچوی . دوی کټونو ته پاڅېږی نو د کلی خلق کښینی ځانونه ماړه کړی نو پاته مړۍ سره بېرته په دسترخانو او شکرونو ووېشی نوځی .

سبا بېګا همدغه حال وی دغرونو پښتانه دچایو عادت دسمی دپښتنو نه زیات لری مګر په غرو کښی هر کور دچایو دپاره اوزه یاغوا ضرور ساتی اوشوده ئی په چایو کښی لګوی . په سرحداتو کښی اکثر تورچای دشو دوسره څکل کېږی . شین چای کم وی دچای دوېش په وخت کښی مېلمانه په کټونو کښی قطارناست وی د کلی مشران سړی او ملکان چاینك په لاس هریو مېلمه ته ورځی اوچای وراچوی اوپه دې باندې ډېر فخر کوی چه مېلمه ته اوبه یاچای په خپله ور کړی . داکار پښتانه په کشرانو او نوکرانو باندې دسره نه کوی .

دپښتنو په دی خصلت باندې نورو مؤلفینو هم ښه بحثونه کړی دی . کرنیل میلسن خپل تاریخ کښی لیکی « پښتانه مېلمه دوست او د فقیرانو په باب سخیان دی » حضرت سیدجمال الدین افغانی د تتمته البیان په ۱۴۷ مخ کښې وائی « پښتانه دغرباؤ او مساکینو عزت او نمانځنه کوی » .

---

(۱) پښتانه داعادت لری چه هر وړوکی اوغټ بېل بېل مېلمه ته ستړی مشی وائی

مولوی عبدالمجید افغانی دتاریخ افاغنه په ۱۹۷ مخ کښې لیکی : « په افغانستان کښې هیڅ مسافرته دلارې دخرڅ ضرورت نه شته په مېلمه پاللو کښې ښځی دنارینه وو نه کمې نه دی . که سړی په ځای کښې نه وی مېلمه ته هم څه تکلیف نه رسی. د مېلمه پاللو ټول ضروریات ښځې په خپله پوره کوی. دپښتنو دملك په ځینی برخو کښې او ربشی ډېرې کېږی مګر دمېلمه دپاره ضرور دپټی په کومه برخه کښې غنم کری دفصل داخیستونه پس دا غنم په ډېر حفاظت سره مېلمه ته ساتی تردې چه خپل او لادته ئې هم نه ور کوی. » دا کټر سر نهری هراس هسپانوی د بمبئی دیونیورستی دتاریخ پروفیسر دخپل هغه سفر په حالاتو کښې چه په ۱۹۳۵ ع کښې ئې په افغانستان کښې کړی ؤ ' داسې لیکی « افغانان' پښتانه او نور قبائل چه دلته اوسېږی د مېلمه په وجود ډېر فخر کوی کوم وخت چه ځای ته ئې راشی ' نوستا د صحت پوښتنه کوی درته به وائی چه په کټ یالیمڅی کښېنه . که بل هیڅ شی هم نه وی نو درته وائی چه دپوز کی په ټوټګی کښېنه ' ستومانی اوباسه ! د مخ او لاسونو مینځلو دپاره درته تودې او به راوړی چای درته تیاروی . ټینګېږی چه غرمه مونږ سره تېره کړه اوډېر کوښښ کوی چه شپه دده سره پاته شی' ددې طبیعی او مخلصانه احتراماتو او نمانځلو نتیجه داوی چه سړی په افغانستان کښې داخیال کوی چه په کور کښې یم' بی له افغانستانه بل هیڅ ځای کښې د انسانی ورورولۍ حس دومره زیاد او عام نه لیده کېږی » (۱) .

په مېلمه غیرت

د پښتنو په مېلمه پالنه کښې داهم داخله ده چه څوك دوی ته پناراوړی اوددوی د بوټی شی نو پښتانه د خپل سرو مال نه تېرېږی مګر مېلمه او د خپل بوټی سړی بی ابۍ ته نه ور کوی. داحس دپښتنو دمېلمه پالنې دحس څخه پیداشوی دی . دې ته باید (په مېلمه غیرت) وویل شی . په مېلمه باندې غیرت کول دوه رقمه دی : یودا چه هر کله څوك دچا دظلم او تعدی نه تنګ شی او نور د مدافعی قوت ئې نه وی نو په دې وخت کښې دی ځی دچا دبوټی کېږی ددې معنی داده چه دی د چاپه سیمه

(۱) دکابل د مجلې ۳ ګڼه ۵ کال

یعنی دهغه په محروسه حدودو کښې دپناه وړلو په نیت داخلیږی ، نودسیمی خاوند دده دحمایت او ساتلو دپاره خپل ټول زیارخرڅوی نو که دښمن په دغه پناه گیر پسې ددغه سړی په سیمه کښې دنقصان کوشش و کړی دهغه دبوټی شوی سړی ته لاس واچوی او څه مالی یاجانی تاوان ورواړوی نو دپښتنو په بین الافغانی قانون کښې دادسیمې والا دشرف بی احترامی او دده په علیه باندې اقدام کول گڼل کیږی نودسیمی خاوندهماغو مره په کلکه سره دټو پک په خوله د خپل پناه گیر بازخواست کوی . لکه څنگه چه یو پښتون د خپل ځان د بی احترامۍ دپاره کلك بدل او عوض غواړی .

هو! که په دغه پناه نیوونکی مېلمه باندې دچا څه حقوق یا پوروی نو د جرگې مرکې او اصلاح په صورت ئې غوښتلی شی ولی په زورسره که څه هم پناه غوښتونکی ډېر ملامت وی څوك ده ته څه ویلی نه شی مگر هغه وخت چه دسیمې د خاوند بدۍ او دښمنۍ ته ملاوتړی نو په دې وخت کښې چه جانبینو ته څه پېښ ؤ هغه به پېښ وی .

حضرت سید جمال الدین افغانی د تمتته البیان په ۱۵۳ مخکښې داسې لیکی : « پښتانه په راننوتونکی او پناه غوښتونکی باندې په سر او مال و درېږی او حمایت ئی کوی » بل داچه که یولاروی یامسافر ، یاهغه څوك چه دچا په حجره کښې ئی شپه تېره کړی یائې مړۍ خوړلی وی او د همدغه سیمې والا په ځای کښې دده په مال یا حق څوك وبلوسی نو سیمه والا په ده غیرت کوی او دمېلمه دحقوقو او دسیمې د احترام ساتلو دپاره خپل ټول کوښښ کوی. کله داسې هم کېږی چه دسیمې خاوند ټوپك غاړې ته اچوی خپل مېلمه دخطر دځای نه تېروی نو په دې وخت که څه پېښېده دهغی مدافعه دی په خپله کوی اومېلمه دخطر دځاینه وباسی . دې ته د پښتنو په اصطلاح کښی « بدرگه » وائی .

بدرگه

بدرگې ته په پښتنو کښی په درنه سترگه کاته شی . مثلا د کوم سړی سره چه ددغه قام یاددغه وطن څوك سړی بدرگه روان وی ، نور پښتانه هغه ته په درانده نظر گوری نو که څه هم په هغه دچا حقوق وی مگر دبدرگې په لحاظ ورته څه نه وائی اورښتیاداده چه څه ورته ویلی هم نه شی !

دوطن مینه او دفاع

دوطن مینه او دخپل کور ساتنه په انسان کښې یوه حقیقی غریزه ده ، حیوانات هم دخپل کور او ځالې سره محبت لری ، مونتسکیو فرانسوی وائی ، چه: « انسان په خپلو وینو سره ترمرګه پوری دوطن مدیون دی » . پول دومروائی : « دوطن حب تر ټولو فضیلتونو لوړ دی ، وطن یوه کلمه ده چه د سرداری ، باداری او قوت ، معنی پکښې پرته ده دلوړ تیا ، استقلال او لویو آمالو منبع وطن دی » تریشکه المانی وائی « د مملکت دفائدې دپاره جنګ تر هرڅه دمخه اوضرور دی » ، ولی یو پښتون اومسلمان ته ددې ټولو خبرونه داډېره ګرانه او عزیزه ده چه « و جاهدوا باموالکم وانفسکم » یاداچه « حب الوطن من الایمان » مونږ دامخکښی ثابته کړې ده چه د غرونو داوسېدونکو دغریزو څخه یوه داده چه دوی دخپل وطن سره نسبتاً ډېره مینه لری ، رښتیا هم داده چه پښتانه دخپل وطن سره زیاته مینه لری ، دوطن ددفاع په لار کښې په سرومال لوبې دپښتنو فطری غریزه ده . اوپه دې غریزه کښې ښځې اونر مساوی دی . و ګوری ءدالاندی ملی لنډی په څومره ژوره وطنی مینه دلالت کوی :

د پښتنو زلمیو وار دی — پر خپل وطن به توریالی مړونه مرینه
زلمی ولاړ توری تر ملادی — غزاله ځی پرخپل وطن سرور کوینه
جانان مې سر په وطن کښېښود — په تارد زلفو به کفن ورله ګنډمه

د پښتنو په دې غریزه لکه چه مونږ مخکښی ولیکل نور پردی خلق هم قائل دی اود همدغه حس په برکت پښتانه دخپلو لوړو غرونو په منځ کښې دآزادی اوحریت سااخلی .

ملی استقلال

پښتانه لکه څنګه چه دوطن په مینه کښی پاخه دی دا رنګه په خپل ملی استقلال هم ډېر مین او تر سر تېر دی . ددنیا لویو لویو فاتحینو لکه اسکندر ، چنګیز ، نادر او تیمور هم دوی پوره دخپل تسلط لاندې نه دی راوستی .

داخبره په یقین سره نه ده معلومه چه ددوی استقلال خواهی دوی ته دغرونو استوګنې ښودلی ده او که دغرو استوګنې دوی دومره په استقلال ټینګ کړی دی .

ډېښتنو اکثر وخت دخپلې آزادۍ پردفاع کښې تېر شوی‌دی، دوه درې سوه کاله دمخه چه د پښتنو دزاړه عظمت دوره تېره شوه په هندوستان کښې دمغولو او په ایران کښې دصفوی کورنۍ شاهنشاهۍ پر پښتنو ځانونه ستړی کړل سره ددې هم‌دوی مغلوب نه‌شول اود پردو غلامۍ ئې ونه منله! چه‌په آخر کښې ئې‌دخپل مټ په زور خپل‌وطن په خپل واك کښې کړو. دارنګه ئې دانګرېزی لامونو په مقابل کښې هغه پا فشاری وکړی چه‌تل به‌دپښتنو دخپلواکۍ غوښتنه دنیا ته څرګندوی. داهغه امتحانونه‌دی چه پښتون قام ددنیا مخې ته‌وړاندې کړی‌دی اوله دغوټولو واقعاتو څخه دانګاره کېږی چه‌د پښتون قام دآزادۍ روح دهغه پورې نه‌مړی ترڅو چه دی په دنیا ژوند کوی، اوهیڅکله په‌ذلت سره چانه سر نه‌شی ټیټولای دپښتنو ملی ادبیات‌دآزادۍ له‌روحه‌ډک‌دی. حمید او رحمن بابا دمغو اوپر خلاف چه‌ددوی آزادی ئې محو کوله سخت ادبی کوښښونه کړی‌دی په‌دې لحاظ دوی دآزادۍ علمبرداران ګڼل کېږی، خوشحا لخان ختك خو دپښتنو داستقلال‌لوی قائد اوملی مشردی. ده په‌دې لار کښې ځان، مال، قام، خانی، عزت دپاچایانو نواز شونه ټول پرېښې‌دی. لکه چه‌وائی:

دمغل منصب مې‌پرېښې هسې خوش‌یم — لکه‌خلاص چه‌له زندانه بندیوان‌شی
آزادی ترپاچائی لاتېری کاندی — چه‌دبل دحکم لاندې شی زندان شی

خوشحالخان دخپلواکۍ دروح په ګناه ډېره موده بندیخانی او قید ونه تېر کړل کوم وخت چه‌دډېلی دمحبس نه‌په‌خپل پښتنې حمیت اوتدبیر سره خپلو آزادو غرونو ته راغی ددې نه وروسته خپل دآزادۍ احساسات داسې ښکاره کوی:

شکر دا چه په پرواز یم — وښکارونوو ته سازیم
زه خوشحال دغرونو بازیم — چه‌په بند وم دمغلو

داملی سردارچه کوم وخت مړ کېده نوپس له‌مرګه ئې لاهم په‌خپله خاوره دغلامۍ ګردنه قبلا وه نوآخرنی وصیت ئې داوکړ: «مایه‌یوه لوی غره اوداسې ځای ښخ کړی چه هلته ذمغولو دسپرو دآسونو دپښو ګردراونه رسېږی!» دقندهار دهوتکو مشهورشاعر عبدالرحیم خود آزادۍ غوښتلو په‌سبب دهغه‌وخت پریه باچاله وطنه وشاره (۱)

---

(۱) دطلوع افغان د۱٤ کال اوله ګڼه.

په‌تېرو پنځلسو ورځو کښې دهیواد او پښتونستان مهمې پېښې

❁ دقوس له (۱٦) نیټې نه‌را په‌دیخوا یوشمېر دولتي عالي رتبه مامورین اومخور کسان د دلکشا په‌ماڼۍ کښې داعلیحضرت معظم همایوني په‌حضور مشرف شویدي .

❁ دصدارت عظمی په‌ماڼۍ کښې والاحضرت اشرف صدراعظم دځینوقومي خانانو اوقبائلي مشرانو ، ملکي او عسکري منصبدارانو سره وکتل .

❁ داعلیحضرت معظم همایوني اوعلیا حضرتې معظمې ملکې اووالاحضرت غازي سپه‌سالار صدر اعظم اووالاحضرت سردار محمد داؤدخان له‌حضوره دپښتونستان دملت اودمنځني اوجنوبي پښتونستان دایالتي حکومتو اودشمالي پښتونستان دملي محلي شوراګانو دهغوصمیمانه همدردیوڅخه چه‌دمرحوم والا حضرت سردار احمدشاه‌خان دسلطنتي دربار دمړینې په‌المنا که‌پېښه کښې ئې په‌بېلو بېلو پیغامو کښې ددوی حضورته وړاندې کړی‌دی په‌جلا بلا پیغامونو کښې دزړه له کومې تشکراوامتنان شویدی اودپښتونستان ملت ته‌ئې ددوی په‌ټولو ملي آرزوګانو کښې سعادت اوموفقیت غوښتی دی .

❁ دمرحوم والاحضرت سردار احمدشاه‌خان دوفات په‌نسبت داعلیحضرت معظم همایوني په‌عنوان ددرستو دولتو پاچا هانو اوجمهوري رئیسانو له‌خوا دتعزیت تلګرامونه را رسېدلي دي .

❁ په‌ډېره‌خواشینۍ خبرشوی یوچه‌دتیرا څانګې لویه‌جرګه‌دقوس په۱۷ورځ چه‌بارکۍ ، باړه کړۍ او کجورۍ ته وخوځېده په‌دغه‌وخت کښې چه‌بارګۍ ته چه‌دورکزو دجرګې ځای‌دی ورسېده په‌همدغه‌ورځ دسهار په(۹) بجود کراچۍ زور ګېروډېروالوتکو پرچل ګزی اوبارکۍ اوشنډه اوپه‌خواجه‌خضر باندی په‌داسی حال کښې چه‌دواړو جرګو دتجاوز کوم خیال هم نه‌درلود اوخالي ئې پخپلوځا یو کښې خپل کارونه تنظیمول او امنیت غوښتونکې مظاهرې ئې کولی سخته بمباري شروع کړه اودمازدیګر ترپینځو بجو پورې ئې پوره ۸ ساعته په‌هغوی بمباري اودماشیګڼو ډزې وکړې دکراچۍ دتجاوز کارو عمالو ددغه وحشیانه تجاوز دحملې په‌نتیجه کښې ددواړ دجرګو ډېر کسان شهیدان اوټپیان شول اوتاوان هم ډېراوښتی دی ددې پېښې تفصیلات په درستو ورځ پاڼو کښې په‌تفصیل سره خپاره شویدی ښائي چه‌ښاغلي لوستونکي ځنی استفاده وکړی .

❁ دقوس په۱۸-۱۹ شپه‌ځینو ملي مجاهدینو په(باړه کړۍ) اوپېښور کښې په‌عسکري چوڼیو او دپېښور پرهوائي میدان پرله‌پسې حملې وکړی چه‌په‌دغه‌اثر دملي مجاهدینواود کراچې داشغالګرو په‌منځ کښې سختي جګړی وشوی اوپه‌نتیجه کښې دالوتکو دپارک دوه دیوالونه ونړېدل اودمتجاوزینو لښکروته تلفات هم ورسېدل.

❁ دقوس په(۲۱)ورځ دماسپښین په٤ بجو دپښتونستان دآزادۍ دلارې دشهیدانو په‌یادونه‌چه دکراچۍ دعمالو دنامردانه اوغیرانساني بمبارۍ په‌اثر په‌شمالي پښتونستان کښې شهید شویدی د مطبوعاتو دمستقل ریاست په‌سالون کښې یومجلس جوړ شوی‌ؤ ، چه‌خورا ډېرعلاقه‌مندان ، دجرائدو نمایندګان اوپه کابل کښې پښتونستان میلمانه ورته راغلی‌وو په‌دې‌ټولنه کښې دمطبوعاتو دریاست ښاغلي معاون ، ښاغلي رشتین دپښتوټولنې ستر مدیر ، ښاغلي سیال اوښاغلي محمدایوب‌خان دجنوبي پښتونستان رئیس خورا مهیجي اوجذابي ویناوی وکړی اوپه‌آخر کښې والاحضرت سردار محمدداؤدخان هم په‌ډېره مؤثره لجهه دپښتونستان دخپلواکۍ دلاری دشهیدانو روحونو ته‌دعا اوتحیات ولېږل او دائي هم‌وویل چه‌زه دافغان د یوغیررسمي فرد په‌حیث خپلو پښتونستاني ورونوته قطعي ډاډ ګېرنه ورکوم چه‌دپښتونستان دخپلواکۍ دمقدس مرام د تائید کولو دپاره دافغان هرفرد هرې قربانۍ ته حاضردی څرنګه چه پښتونستانیانو دافغانستان په خپلواکۍ ډېری قربانۍ کړې دی ، ددغه مملکت هرفرد چه‌په‌رګونو کښې ئې دافغانیت یوڅاڅکی وینه‌هم وی دپښتونستان دملت درواحق دمقصد په‌لاره کښې اوږه په اوږه دخپلو پښتونستاني ورونو سره هرې قربانۍ ته تکړه ولاړدی . بیادغه ټولنه‌پنځه‌نیمو بجوته‌نژدې دافکارو دروزني دښاغلي مدیر په‌دعا اودرودونو خلاصه‌شوه.

❁ دپاکستان دبمباریو له‌امله په‌درست هیواد کښې دپروټست په‌ډول مظاهرې جاری‌دی .

❁ دافغانستان دخارجه چارو وزارت دآزاد پښتونستان دایرید و اواورکزیو دبی‌دفاع قبائلو په خلکو باندې د پاکستان دالوتکو دبمباریو په‌نسبت په کابل کښې د پاکستان دلوی سفارت په واسطه دپاکستان په حکومت سخت پروټست کړیدی .

❁ د (افغاني سرې میاشتې) مؤسسې دهغو وروستنیو پېښو دټپیانو دعلاج دپاره چه‌په شمالي پښتونستان کښې شویدی یوطبي هیئت دبشپړ سامان اودواګانو سره هغې خواته لېږلی دی .

دپښتو ټولنی نوی کتابونه

پښتو قاموس

دپښتو قاموس اول ټوك تېر کال په ښه ښکلی قطع په (٦٦٨) مخو کښی چاپ شوی دی چه دپښتو ژبی دلغاتو یوه لویه پانسکه لری.

نوی ژوند

دا کتاب په تېر کال کښی په ښایسته صورت چاپ شوی دی د پښتونستان دپېژندنې په باب غوره او لنډ معلومات لری

خوشحال خټك څه وائی ؟

دا کتاب چه دخوشحال خټك په ویناؤ یوه خوږه تبصره ده په تېر کال کښی په غټو حروفو اوښه چاپ طبع شوی دی .

دعبد الحمید خوندور دیوان

دپښتو ژبی داقیمتی اثر او دنازك خیالی دفتر له چاپ څخه راوتلی دی.

د پښتنو مجاهدې

دپښتنو دتاریخی کار نامو او مجاهدو یولنډ تاریخ دی .چه په پښتو اوفارسی ژبو لیکل شوی اوپه وړوکی قطعی له چاپ څخه وتلی دی .

پښتو نیار

دا کتاب هم په ښکلی شکل سبز کال دپښتونستان د ورځی په مناسبت دپښتو ټولنی له خوا چاپ شوی او یوښه اثر دی.

* * *

دغه درست کتابونه له پاڼو ځای څخه په ښه او مناسب قیمت

اخیستلای شی !

دکانل په عمومی مطبعی کښی چاپ شو